

# په افغانستان کې د کوچي-ځايي شخړې ډولونه

ډاکټر انتونیو گیستوزی

غبرگولی ۱۳۹۷

EUROPEAN UNION

څیړنې د ښه
افغانستان
لپاره
AREU

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

# څېړنپاڼه

# په افغانستان کې د کوچي-ځايي شخړې ډولونه

ډاکټر انتونيو ګيستوزی

غبرګولی ۱۳۹۷

دغه څېړنه د اروپايي ټولنې له خوا
تمويل شوې ده

د کتاب بین المللي معیاري ګڼه ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۴۱-۰۴-۴

د چاپ کوډ ۱۸۰۱ P

سمو نګر کلیسي جینسن او ماتیو لانګ مور

د لومړي مخ انځور پژواک خبري اژانس؛ د افغانستان په کلیوالي سیمو کې د کوچي- بزګر له نښتې وروسته حال

©۲۰۱۷ د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه یوازې د غیر سوداګریزو موخو لپاره کېدای شي نقل ،وینا ، ذکر یا بیا چاپ شي، په دې شرط چې لیکوال او منبع یې خبر شي. په دې خپرونه کې ځای شوي نظرونه لیکوال پورې اړه لري او په حتمي ډول د AREU یا د اروپایي ټولنې نظرونه نه منعکس کوي. ټینې حقونه خوندي دي.

که چېرې دغه خپرونه په برېښنایي ډول چاپ شوې، ذخیره شوې یا لېږدول شوې وي، برېښنایي پته یې باید د AREU ویب پاڼې ته ولېږل شي. (www.areu.org.af). له دغو اجازه لیکونو څخه بهر له دې خپرونې څخه ګټه اخیستل د AREU او د همکارو خپروونکو مخکینۍ لیکلې اجازې ته اړتیا لري. د AREU د برېښنا لیک د پتې له لیاري، areu@areu.org.af یا تیلیفون شمېرې ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۵ له لیاری اجازه لیک تر لاسه کېدای شي.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنې یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسی پوری اړوند څیړنې برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو نشرول او همداسې د شواهدو پر بنسټ د څېړنې او زده کړې د کلتور خپرول دي. د پنسیلوانیا د پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کی د یوو څیړنیز بنسټ په توګه دلوړ مقام لرونکی دی او په منځنی آسیا کی د څیړنیزو بنسټونو په منځ کی په پنځم کچه کی ځای لری. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې دلاسته راوړلو لپاره د پالیسیو جوړونکو، مدني ټولنې، څېړونکو او زده کونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتونه کار واخلي او د څېړنې په برخه کی خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څیړنی او ارزونی اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینی نوروسازمانونو، مدنی ټولنی او دخپلواکو کارپوهانو استازی په کی شامل دی، اداره کیږی.

**تمویلونکی:**

د دې اداری تمویلونکی د سویډن نړیواله انکشافی اداره (SIDA) او لاندی نور نړیواله بنسټونه دی:

The European Commission (EC), United States Institute of Peace (USIP), Norwegian Institute of International Affairs (NUPI), Overseas Development Institute (ODI-UK), Promundo (US), Sustainable Development Policy Institute (SDPI), Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC), Institute of Development Studies (IDS) and Swiss Agency for Development and Cooperation(SDC), School of Oriental and African Studies (SOAS), Economic and Social Research Council United Kingdom (ESRC-UK).

همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:

Resolve Network,Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), Global Challenges research Fund (GCRF), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB-Asian Think Tank Network and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC).

# د لیکوال په اړه

ډاکټر انتونيو ګیستوزي د افغانستان په اړه ډېرې څېړنې کړې او په دې اړه یې زیاتې لیکنې خپرې شوې دي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې لپاره یې دا لاندې لیکنې خپرې کړې دي: ۳۰ کلنې شخړې (۲۰۱۲)، انعطاف منونکی کارتل: په شمالي افغانستان کې له ۲۰۰۱زیږدیز کال او له هغه وروسته سیاسي اقتصاد، (۲۰۱۲)زیږدیز کال، د افغان ملي اردو: له مالي اړخونو ها خوا دوامداره ننګونې (۲۰۱۴)زیږدیز کال، د افغانستان د لیسو سیاسي کول (۲۰۱۵)زیږدیز کال، د قضیې وروستی حد: د افغانستان په لیسو کې سیاسي فعالیت (۲۰۱۵)زیږدیزکال، او له ایساف څخه وروسته د افغان ملي اردو (۲۰۱۲)زیږدیز کال.

ډاکټر ګیستوزي د نړیوالو اړیکو په برخه کې د لندن د اقتصاد له پوهنځي څخه ډاکټري (پي ايچ ډي) کړې او بولونيا په پوهنتون کې یې د معاصر تاریخ په برخه کې د لیسانس تر درجې پورې زده کړې کړې.

# د موضوعاتو لیکلړ

سریزه ..... د
لنډیز ..... ه
۱. سریزه: په شخړو کې د کوچیانو د ښکیلتیا په اړه دودیزې نظریې ..... ۱
۲. په افغانستان کې کوچیان او بزګران ..... ۴
۳. د شخړو ډولونه ..... ۷
۴. د شخړو ډولونه: بزګران د کوچیانو لارې بندوي ..... ۸
۴.۱ بهسود ..... ۸
۴.۲ مالستان ..... ۱۱
۴.۳ له هزاره جاتو څخه بهر ..... ۱۲
۴.۴ کوچیان د نورو کوچیانو مخنیوی کوي ..... ۱۴
۵. د شخړو ډولونه: په سرحدونو تېری ..... ۱۵
۶. د شخړو ډولونه: د ځمکو غصب او ناقانونه نیول ..... ۱۸
۶.۱ څوک فساد جوړوي؟ ..... ۱۸
۶.۲ د ځمکو لاندې کول یا غصبول ..... ۲۰
۶.۳ ځایي شوي کوچیان د هغو کوچیانو په وړاندې چې غواړي ځایي شي ..... ۲۱
۷. د شخړو اساسي لاملونه ..... ۲۳
۸. پایله ..... ۲۷
بیبلوګرافي ..... ۲۹
د تبصرې لپاره غوښتنه ..... ۳۰

# جدولونه

لومړی جدول: په شخړه کې سروې شوې ټولنې ..... ۲
دویم جدول: د تر سره شویو مرکو لنډیز ..... ۳

# نقشې

لومړۍ نقشه: د قضیو موقعیتونه ..... ۲
دویمه نقشه: له شخړو څخه مخکې د کوچي ګروپونو مهاجرت ..... ۲

## سریزه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره ویاړي چې خپلو لوستونکو ته " په افغانستان کې د کوچي- ځايي د شخړو ډولونه" په اړه یوه ځانګړې لیکنه وړاندې کوي. دغه لیکنه د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د څېړونکي ډاکټر انتونيو ګيستوزي له خوا په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د سخاوتمندانه مرستو په ذریعه برابره شوې ده. لیکنه د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د لویې پروژې یوه برخه ده چې اروپايي ټولنه یې تمویلوي: د طبیعي زیرمو د مدیریت (NRM) په ځانګو کې د څېړنو له درې ګونو هڅو څخه یوه ده.

په افغانستان کې د کوچیانو او ځايي خلکو تاریخونه ډېر پېچلي او له یو بل سره دومره تړلي دي چې بېلول یې ستونزمن دي. د نسلونو په اوږدو کې د دغو ډلو ترمنځ په پرله پسې ډول شخړې رامنځ ته شوې دي. سره له دې، د دغې څېړنې په پایله کې موږ په دې پوه شو چې د شخړو نوي ډولونه را ټوکېدلي دي. دغه راز موږ د دغو موندنو له امله پر دې پوه شو چې سملاسي پالیسیو ته اړتیا شته څو د ښاري پرمختیا یا کرنیزې ودې لپاره امکان برابر شي او په دې ډول له دوامدارې اقتصادي ودې او پرمختګ سره مرسته وشي.

په اوس مهال کې د یوې مشخصې پالیسي لپاره چوکاټ ځکه نشته چې د دغو ننګونو ماهیت خورا پېچلی دی. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره کې موږ د دې وړاندوېینه کوو چې له مهمو همکارانو سره د ښکاره خبرو او په ملي کچه د پالیسي د جوړولو او جاري څېړنو له لیاري کولای شو چې د دغې موضوع په هکله خپلو څېړنو ته ادامه ورکړو. د اروپايي ټولنې د همکارانو په شان د مرستې له لیاري کولای شو دغه پېچلتیاوې را کمې کړو او د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې د ماموریت له لارې د پالیسیو او کړنو لپاره معلومات برابر کړو او د شواهدو پر بنسټ څېړنې تر سره او خپرې کړو.

په درنښت



ډاکټر اورځلا نعمت

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره رئیسه

# لنډیز

د کوچي- ځایي شخړې پروژه د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له خوا د ۲۰۱۷ ز کال په پای کې پیل شوه. دغه ځانګړې لیکنه د دغې پروژې لومړی پایله ده.

که څه هم د سرحدونو او د کډوالۍ د وختونو په تړاو شخړې په افغانستان کې د کوچي/ بزګر ترمنځ د اړیکو یو اړین اړخ دی. د آریو دغې جاري پروژې موندلې چې د شخړو نوي ډولونه راټوکېدلي دي.

سیاسي ګوندونه، سازمانونه او د فشار ګروپونه په افغانستان کې نن ورځ له شخړو څخه د پخوا په پرتله ډېر نقش لري او ټولنې په دې ډول د پخوا په نسبت په اساني سره د ګروپي کړنو لپاره راټولیږي. د دغه بدلون یوه مستقیمه پایله دا ده چې څرځایونو ته د لاسرسي په تړاو شخړې رامنځ ته شوې: ټولنې یوازې د تنظیم شویو کړنو د قابلیت له وجې کولای شي ډېرو سیمو ته د کوچیانو د لاسرسي مخنیوی وکړي لکه څنګه چې په هزاره جاتو کې پېښ شول.

سره له دې، د عمومي تصور له مخې، د کوچي/ بزګر د شخړو ډېر اړین شکل اوس د دولتي ځمکو پر تخصیص راڅرخي کومې چې په معمول ډول څرځایونه بلل کیږي. بزګران او ځای پر ځای شوي کوچي ټولنې، دواړه هڅې کوي چې په څرځایونو باندې ودانۍ جوړې کړي یا یې د کرنې لپاره وکاروي. دغه هڅې د ښاري ودې او د نفوسو د فشار له وجې کیږي. دغه بدلون د ځایي خلکو او ځای پر ځای کیدونکو ټولنو یا د ځایي- ټولنو او ځای پر ځای کیدونکو ټولنو او کوچي ټولنو ترمنځ شخړې رامنځ ته کوي. دغه کوچي ټولنې غواړي خپل څاروي هغو څرځایونو ته بوځي چې غصب شوي دي.

د سرحدونو او په کرنیزو ځمکو باندې تیری د یوې مسألې په حیث پاتې ده او د بزګرانو ټولنې دې ته هڅوي چې د کوچیانو د لاسرسي مخنیوی وکړي، خو تاوتریخجن ټکرونه په ندرت سره یوازې د دغو تېریو په پایله کې رامنځ ته کیږي.

د پروژې په دې پړاو کې د پالیسي لپاره یوه سپارښتنه دا ده، چې افغان چارواکي نور باید په چټکۍ سره پالیسي طرحه کړي، چې له لیاري یې د ښاري ودې یا کرنیزو کړنو لپاره ځینې څرځایونه تخصیص شي.

# ۱. سریزه: په شخړو کې د کوچیانو د ښکیلتیا په اړه دودیزې نظریې [۱]

د ۲۰۱۲ ز کال په ډسمبر کې آریو د طبیعي زیرمو د مدیریت پروژه پیل کړه، چې د اروپایي ټولنې له خوا تمویل شوې وه. دغه پروژه د څېړنې درې برخې لري، چې هره برخه یې د کوچي- بزګر د شخړې یو اړخ لري. پروژه به درې کاله وخت ونیسي او په څو مرحلو کې تنظیم شوې ده. دغه لکینه د لومړۍ مرحلې پایله ده چې د کوچي- بزګر د شخړو ۸ قضیې تر څېړنې لاندې نیسي. دغه قضیې په ټول افغانستان کې خپرې دي. په څېړنه کې له دولتي چارواکو، د ټولنې له مشرانو او په کابل، بامیانو، خوست، غزني، فراه، لوګر او وردګ ولایتونو کې د شخړو د نورو لیدونکو سره مرکې هم شاملې دي. دغه لکینه د لومړۍ مرحلې موندنې ښیي چې د ۸ قضیو له مطالعې څخه لاس ته راغلې.

په ۸ ځایونو کې په ټولیز ډول د ۴۲ قضیو مرکې تر سره شوې (لومړۍ نقشه او اول او دویم جدول وګورئ). چېرې چې د کوچیانو او بزګرانو ترمنځ په یوه یا بل ځای کې شخړې رامنځ ته شوې دي. په همدې شمېر کې له کوچیانو او بزګرانو سره مرکې شوې دي. دغه مرکې یا په نقشه کې په ښوول شویو ځایونو کې (له ټولو بزګرانو سره او له زیات شمېر کوچیانو سره) یا په بل ځای کې د دوي د کډوالۍ د لارې په اوږدو کې تر سره شوې (له ځینو کوچیانو سره). نورې ۱۵ مرکې په کابل کې له انفرادي کسانو سره شوې دي، چا چې د کوچي- بزګر د شخړو په اړه معلومات درلودل، داسې کسان چې په وزارتونو کې، د کوچیانو له کمیسیون سره یې کار کاوه یا یې د کوچیانو استازیتوب کاوه او نور. درې نورې مرکې له داسې انفرادي کسانو سره شوې دي چې د بامیانو د وضعیت په اړه یې معلومات درلودل چېرې چې د راپورونو له مخې د کوچیانو له خوا ځمکې نیول شوې وې. په ټولیز ډول د ۲۰۱۷ ز کال تر سپټمبر پورې ۲۴ مرکې تر سره شوې دي.

د کوچیانو او بزګرانو ترمنځ شخړه یوه نوې پړاو نه ده او نه داسې موضوع ده چې پخوا یې د پوهانو پام ځان ته نه وي کښلی کړی. که څه هم، په پخوانیو څېړنو کې پر هغو شخړو ډېر تمرکز شوی و چې د هزاره جاتو په سویلي برخو کې د هزاره ګانو او پښتنو کوچیانو ترمنځ پېښې شوې وې، او یوازینۍ شخړه وه چې د زیاتو رسنیو پام یې ځان ته اړولې وه (تقریبا د ټولو رسنیو). [۲] څرنګه چې په تېرو وختونو کې د دوو ټولنو ترمنځ شخړې یو تاریخ لري او پام یې ځان ته اړولې وه، چې په مختلفو پړاونو کې او / یا سیاسي ډلو له خوا تمویل شوې وه، د هزاره ګانو / کوچیانو شخړې دا ستونزمنه کوي چې د هغو ټولنیز، کرنیز، اقتصادي او په نفوسو پورې تړلې سرچینې سره جلا کړې. د هزاره/ کوچي شخړې قضیې په دې څېړنه کې شاملې دي ځکه چې دغه شخړې د عمومي کوچي-ځایي ټکر یوه ډېره مهمه برخه ده. د کوچیانو او نورو ټولنو ترمنځ د شخړو قضیې هم په دې څېړنه کې شاملې دي چې تفصیلات یې په لومړي جدول کې راغلي. که څه هم د کوچیانو لوی اکثریت پښتانه دي، دغه راز ازبک، پشه یي، ایماق، ترکمن او ګوجر قومونه هم کوچیان لري. له اتو په یوه انتخاب شوې قضیه کې ازبک او په یوه بله کې بلوچ کوچیان شامل دي. د قضیو انتخاب شوې نمونې د کوچي- ځایي د عمومي شخړو استازیتوب نه کوي ځکه چې د داسې شخړو یوه دقیقه پلټنه نه ده شوې. قضیې د لاندنیو ملاحظاتو پر بنسټ انتخاب شوې. دغه قضیې د معلومو شخړو د یوه لیست څخه انتخاب شوې چې په کابل کې د کوچیانو د مختلفو شوراګانو له خوا برابرې شوې وې.

- د مرکه کوونکي لپاره ځای ته د رسېدلو لوژیستیکي اسانتیاوې.
- د مختلف ډول ټولنیز قومي او اقتصادي چاپېریال شمولیت.
- په بریالیتوب سره د خبرو اترو له لارې د شخړو حلول او د جاري شخړو د ګډې ټولیزې شتون.
- د هغو شخړو شتون چې په نسبتا ګڼ مېشتو سیمو کې پیښېږي او د تاوتریخوالي او تخریب شدت زیاتوي.

۱ په دغه لیکنه کې د "کوچي(نومیډ " نوم ټولو کوچي ټولنو ته استعمال شوی دی ، له بلې خوا د "کوچي " نوم یوازې پښتنو کوچیانو ته رجوع شوی دی.

۲ د دې موضوع په اړه د آریو د پخوانۍ لکینې لپاره رجوع وکړئ: لیز اهدن ویلي، "په څرځایونو کې سولې لپاره لټه " : په افغانستان کې د کلیوالیي ځمکو اړیکې ، کابل: آریو ، ۲۰۰۴ ز؛ مرون پیټرسن، "د شیوا څرځایونه ۱۹۷۸-۲۰۰۳: په شمال ختیځ بدخشان کې د ځمکو په اجاره او ځمکو کې بدلونونه ، کابل: آریو ، ۲۰۰۴ ز؛ ای. ګلوستوزي، "په افغانستان کې د کوچي-بزګر د شخړو جدول"، کابل: آر یو ، ۲۰۱۷ز"

لومړی نقشه: د قضیو موقعیتونه




لومړی جدول: په شخړه کې سروې شوې ټولنې

| | |
|---|---|
| مالستان (غزني) | هزاره بزګران د پښتنو کوچیانو په مقابل کې |
| بهسود(وردګ) | هزاره بزګران د پښتنو کوچیانو په مقابل کې |
| ازره (لوګر) | پښتانه بزګران د پښتنو کوچیانو په مقابل کې |
| ډیرای (خوست، متون ولسوالي) | پښتانه بزګران د پښتنو کوچیانو په مقابل کې |
| فراه | بلوچ بزګران د پښتنو بزګرانو په مقابل کې |
| فراه | بلوچ کوچیان د پښتنو کوچیانو په مقابل کې |
| ده سبز (کابل) | تاجک بزګران د پښتنو کوچیانو په مقابل کې |
| خاک جبار(کابل) | تاجک او پښتانه بزګران د پښتنو کوچیانو په مقابل کې |
| امام صاحب (کندز) | ازبک کوچیان د پښتنو بزګرانو په مقابل کې |

د قضیو دغه ټولیزه په افغانستان کې د کوچي/ ځایي شخړو د ټولو ډولونو استازیتوب نه کوي. د مثال په ډول، داسې راپورونه هم شته چې د پښتنو او پشه یانو ترمنځ هم شخړې پېښې شوې دي. [3] سره د دې، په ټولیز ډول دغه ۸ قضیې د کوچي/ ځایي شخړو د زیات اکثریت څخه استازیتوب کوي، نه یوازې له دې کبله چې زیاتې شخړې د افغانستان په هغو ساحو کې پېښې شوې چېرې چې کوچیان تګ راتګ کوي.

دویم جدول: د ترسره شویو مرکو لنډیز

| د کوچیانو | مشران | د کلیو مشران | حکومتي چارواکي | په کابل کې سیاست وال او استازي | شننونکي | ټولګه |
|---|---|---|---|---|---|---|
| بهسود | ۳ | ۴ | | | | |
| مالستان | ۳ | ۲ | | | | |
| ده سبز | ۳ | ۳ | | | | |
| خاک جبار | ۳ | ۳ | | | | |
| ازره | ۳ | ۳ | | | | |
| فراه | ۴ | ۲ | | | | |
| امام صاحب | ۲ | ۲ | | | | |
| خوست | ۳ | ۳ | | | | |
| سایر موقعیت ها | ۲ | ۱ | ۲ | ۷ | ۲ | |
| مجموعه | ۲۲ | ۲۳ | ۲ | ۷ | ۲ | ۲۴ |

دغه لیکنه له پنځو برخو جوړه شوې ده. لومړۍ برخه (په افغانستان کې کوچیان او بزګران) لومړۍ برخه په افغانستان کې د کوچي/ بزګر د مراودې ځینو خواوو ته په بیا کتنې سره موضوع معرفي کوي. دغه مراوده له شخړې څخه مخکې او وروسته حالات رانغاړي. دا لاندې درې برخې د شخړو درې اساسي ډولونه تر بیا کتنې لاندې نیسي. دغه ډولونه په ترسره شویو مرکو کې څرګندیږي:

- بزګران د کوچیانو د لاسرسي مخنیوی کوي.
- د سرحدونو/پولو ترمنځ د ننبو د نشتوالي او تېریو له امله ټکر.
- د ځمکو غصب او د دولتي ځمکو ناقانونه نیونه.

پینځمه او وروستۍ برخه د شخړو د ډولونو بنسټیزو لاملونو ته کتنه کوي چې په تېرو دریبو برخو کې توضیح شوي دي. د لیکنې پایله د دغې لیکنې پایلو ته پاملرنه کوي چې د پالیسي په جوړولو او د نورو څېړنو لپاره یې لري.

۳ د پښتون کوچي د شورا له غړي سره مرکه/ مکاتبه . مارچ ۲۰۱۲.

# ۲. په افغانستان کې کوچیان او بزګران

که څه هم په افغانستان کې د کوچیانو حقیقي شمېر څرګند نه دی، د دوي شتون لا اوس هم ډېر څرګند دی او په کلیوالي اقتصاد باندې زیات اثر غورځوي. د ۲۰۰۴ز کال ارزونې "د واقعي مهاجرو "کوچیانو شمېر ۱،۵ میلیونه ښوولی (په دې شمېر کې د کوچیانو ټولې کورنۍ او د هغو کورنیو واقعي لېږدېدونکي غړي شاملېږي چې په قسمي ډول مېشت شوي دي) دغه شمېر دقیق نه دی، بلکې شمېر په یقیني ډول نن ورځ تر دې ټیټ دی. د حقیقي کوچیانو شمېر که هر څومره وي، خو اوس مهال یې د ښاریو شمېر ۴ میلیونه اټکل شوی. دغه شمېر په ۲۰۰۴ ز کې ۱۷ میلیونه ښودل شوی. که څه هم، په اوسط ډول د رمو په شمېر کې د تېرو دربېو کلونو په موده کې کموالی راغلی، د ښاریو په شمېر کې دغه زیاته اندازه کموالی د کوچیانو په شمېر کې هم یو په پرلپسې ډول لېږوالی څرګندوي.[۴] د آریو د لومړنیو لیکنو موندنې هم د دې پروژې لپاره د مېشت کېدلو په پروسه کې چټکتیا ښیي.[۵] دغه کموالی تر یوې اندازې باید د کوچیانو په شمېر کې د کموالي په ذریعه منعکس شي. که څه هم دغه شمېر باید په ضروري ډول یو شان نه وي. تر ۲۰۰۴ زکال پورې نږدې ۳۲۵۰۰۰ کوچیان مېشت شوي وو. نور ۵،۰ میلیونه هغه یې په کوچي کورنیو پورې تړاو درلود خو په موسمي کډوالۍ کې له ښاریو سره یو ځای نه وو شریک. بشپړې کوچي کورنۍ چې په کېږدیو کې ژوند کوي او جوړ شوي کورونه نه لري، ښایي شمېر یې نن ورځ ډېر لیږ وي.[۲] ډېر شمېر کوچي کورنۍ په قسمي ډول مېشت شوې دي. دې کورنیو یو ډول مختلطې او نیمه مېشته ټولنې جوړې کړې چېرې چې ځینې غړي په کورونو کې اوسي او په موسمي کډوالیو کې برخه نه اخلي او ځینې نور یې له ښاریو سره یو ځای په هر کال کې شنو څړځایونو ته لېږدي. دغه راز په اصطلاح نیمه کوچي ډلې هم شته، چې کورونه لري خو اوس هم هر کال ټولې کورنۍ په موسمي کډوالیو کې برخه اخلي. حکومتي سرچینې اوس هم د هغو کوچیانو شمېر چې په قسمي ډول مېشت شوي دي د ۱ میلیون په شاوخوا کې اټکلوي. دغه کورنۍ د خپلو کورنیو ځینې غړي په مشخصو ځایونو کې پرېږدي او ځینې نور یې په موسمي کډوالیو کې له ځان سره اخلي.[۷]

دویمه نقشه د لاندې د کډوالۍ د لارو یوه تر ټولو وروستۍ ارزونه ښیي چې د USAID په مالي مرسته په ۲۰۰۸-۲۰۰۹ زېږدیز کال کې تر سره شوې وه. دغه پروژه کلیوالي کړنې، تعدیل او د وړتیا لوړوالی (PEACE) نومېږي. له نقشې څخه معلومېږي چې د کوچیانو اکثریت د هزاره جاتو څړځایونو ته لیږدېدل (مرکزي لوړې ځمکې). کوچیان دغه ځمکې د اوړي په موسم کې تر ټولو زیاتې خوښوي. د دوي د کډوالۍ په لارو کې نور هم داسې څړځایونه شته چې دوي ورڅخه استفاده کوي.[۸] تر یوې اندازې د افغانستان د کلیوالي سیمو ډېری برخې د دغو کډوالیو له امله اغیزمنې شوې دي.

د کوچیانو او بزګرانو ترمنځ اړیکې ډېرې پېچلې دي. له شخړو څخه مخکې په دغو اړیکو کې داسې اجزاوې لیدل شوې چې ټولو خواوو ته یې ګټه رسېدلې: کوچیان ځینې توکې رانیسي، چې دوي ښایي په بله طریقه هم د هغې تر لاسه کولو هڅه وکړي او بیا یې په لېږې پرتو کلیو کې خرڅ کړي او دغه راز په ډېر مقدار تازه غوښې او د شېدو محصولات په ډېرو ځایونو کې د کال په یوې برخه کې برابره وی. په عموم ډول اټکل کېږي چې په افغانستان کې د ټولو پلورلو ښاریو دوه پر درېیمه برخه د کوچیانو له خوا روزل شوي.[۹] سره له دې، څرنګه چې په افغانستان کې د سرکونو شبکو پراختیا موندله، د کوچیانو سوداګریزي کړنې د ډېرو کلیوالو لپاره اوس په پرلپسې ډول بې ارزښته شوي دي.[۱۰] په عین وخت کې د کوچیانو او بزګرانو ترمنځ یو ښکاره تشنج موجود و ، په تېره بیا په ځینو سیمو کې دغه تشنج په عمده ډول له دوو سرچینو څخه راولاړ شوی:

- د شاهي رژیم په دوران کې د ځمکو ډېرې لویې ټوټې د حکومتي فرمان په ذریعه کوچیانو ته ورکړل شوې چې د ځایي ټولنو په خاص ډول د هزاره ګانو په زیان تمامې شوې. هزاره ګان په خاص ډول د ۱۸۷۸ ډسمبر- ۱۸۷۹ فبروري ترمنځ د کابل د والي یعقوب په امر کوچیانو ته د ځمکو د پراخې ټوټې د ورکولو مشروعیت تر پوښتنې لاندې راولي. دغه وخت افغانستان له سیاسي ثبات او نظم څخه برخمن نه و.
- د کوچیانو رمې ډېر ځله د کلیو څړ ځایونو (سرحدونه نه لري) او کرنیزو ځمکو ته ننوځي، حاصلاتو ته زیان رسوي او د بزګرانو لپاره خنډونه ایجادوي چې خپل ښاروي وروزي.

۴ د کوچیانو د خپلواک ریاست له سلاکار ډاکټر عصمت الله خوشال سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

۵ ای.ګیسټوزي ، "په افغانستان کې د کوچي- بزګر د شخړې جدول"، کابل: آریو ۲۰۱۷.

۲ فرووک دی ویجر ، "د کوچي ملي څو سکتوري ارزونه، " (کابل ۲۰۰۵) ؛ فروک ډي ویجر ، "د افغانستان کوچي شپانه: بدلون او توافق، " کوچي خلک ، ۱۱ جلد ، خپرونه (۲۰۰۷): ۹-۳۷

۷ " د افغاني جګړې پټ تلفات: کوچي بزګرانو نور ځایي ژوند خپلوي، " ګارډین ، ۹ جنوري ۲۰۱۳؛ لز الدن ویلي، " په څړځایونو کې د سولې لټول" (کابل: آریو ، ۲۰۰۴). امه ګراهم هاره سون،

۸ په وردګ ولایت کې د هزاره بزګرانو او کوچیانو ترمنځ د شخړو پس منظر، وګورئ کی ، ناوابي، " ماتې اړیکې ") کابل: CPAU، ۲۰۱۰).

۹ "دافغانستان د خلکو لپاره د خطرونو کمول" ( یو ایس ایډ ، د افغانستان د سولې پروژه) مخ ۵ )

۱۰ کلوز فردیناند ، "په مرکزي افغانستان کې د کوچیانو پراختیا او تجارت"، فولک ۴، ۱۹۲۲

د حکومت هڅې چې د کوچي- بزګر د اړیکو د تنظیمولو لپاره یې کولې ډیرې اغېزناکې نه وې. د **۱۹۲۰** ز کلونو د څرڅایونو قوانینو د بزګرانو حقوق منلي چې د خپلو کلیو په شاوخوا کې څرځایونه ولري، خو دغه احکام ښه نه وو تعریف شوي او په حقیقت کې یې عملي بڼه نه ده غوره کړې.[11] په عموم ډول داسې باور شته، لږ تر لږه د هزاره ګانو ترمنځ چې حکومت د کوچیانو پلوي کوي او د دوي په کرنیزو ځمکو او د کلیو په څرڅایونو باندې د تېریو شکایتونه ښایي د بزګرانو لپاره نورې ستونزې راولاړې کړي.[12]

سره له دې هم افغان حکومتونو تل په بشپړ ډول د کوچیانو ملاتړ نه دی کړی؛ پاکستان ته د سرحدونو له خوا د قاچاقي مالونو تېرولو پر مالیاتو بده اغېزه کړې او د دې لپاره کارول شوي چې مخالفې ډلې افغانستان ته سلاوې را نقل کړي. سربېره پر دې، څرنګه چې له **۱۹۵۰**ز کلونو څخه را په دې خوا پرمختیایي پالیسیو عمومیت پیدا کړ، په مختلفو پلانونو بحث وشو چې کوچیان ځایې کړي او په ځینو وختونو کې د دغو پلانونو د پلی کولو کار هم پیل شوی. د کوچیانو د شتمن کېدو (د سوداګرۍ او د ځمکو د استملاک له لارې)، تعلیم ته د ورڅرمه کېدو، د شخړو د اغېزو (**۱۹۷۸** څخه راهیسې) او د کډوالۍ د لارو د بندېدو له امله د کوچیانو په شمېر کې کموالی راغلی.[13]


له ۲۰۰۱ ز کال څخه پخوا، کوچیان او بزګران تل د خلکو داسې کټګوري نه وې چې له یو بل څخه یې ښکاره فرق درلود. لکه څنګه چې به په راتلونکو مخونو کې ښکاره شي، خالص کوچیان د آټکل شویو **۳** میلیونو کوچیانو یو اقلیت دی چې ښایي د دې شمېر ۱ په **۳** برخه جوړه کړي. مختلط، نیمه مېشته کوچي ټولنې یوه لویه کټګوري جوړوي چې دودیز تعریفونه بې ارزښته کوي: نارینه ځوانان او د دوي د ټولنې نور غړي موسمي کډوالیو ته ادامه ورکوي او د ښو وښو په لټه کې وي چې خپلو څارویو ته غذا ورکړي، خو کوچنیان، ناروغان، معیوبین او واړه هلکان ښوونځیو ته ځي او د ټولنې نور غړي ښایي د کوچیانو د کډوالۍ د مسیر په بله څنډه کې په کلکو کورونو کې دننه پاتې شي. د کوچیانو د ټولنې مېشت شوي خلک ښایي حتی په ځینو کرنیزو کړنو کې بوخت وي، حتی په داسې حال کې هم د دوي لپاره د څارویو ساتل ښه دنده وي. په بزګرانو کې ډېری یې پخواني کوچیان دي په وروستیو کلونو کې یې کوچي ژوند پرې ایښی خو بیا یې هم نسبتا لویې رمې په اختیار کې وي او ښایي ځینې نژدې خپلوان یې په موسمي کډوالیو کې له څارویو سره په حرکت کې وي. د مشخصاتو دغه مختلطه وضعه ستونزمنه کوي چې د شخړو پېچلې نمونې تحلیل کړای شي، سره د دې هم لیکونکي پرېکړه کړې چې همدغه نمونې وڅارې حتی که د کوچي-بزګر د شخړو قضیې ډېرې څرګندې هم نه وي ځکه دغه مختلط انځور د دې حقیقت څرګندوی دی، چې د پالیسي جوړونکي او د دې حالت سره نور ښکېل کسان ښایي بې اختیاره له دې حالت سره مخامخ شي.

۱۱ د اراضي له چارواکو سره مرکه ، کابل، سپټمر **۲۰۱۷**، د ځمکې د اجارې له متخصص سره مرکه، کابل، سپټمبر **۲۹۱۷**. وګورئ: ایم شریف او ایم وای سفر، "په افغانستان کې د ځمکو اداره او مدیریت" (بلو منډز: د تیرا انستیتوت، جون ۲۰۰۸).

۱۲ په دې پروژه کې ټولو **۸** مرکه ورکونکو هزاره ګانو دغه احساس تائید کړی.

۱۳ فابریڅیو فوشوني، د افغاني کوچیانو ټولنیزه بې وسي (برلین: ای ای این، **۲۰۱۳**)؛ ډی وای جیري، "ملي څو سکټوري ارزونه." د ډی ویجیري له خوا رهبري شوې ارزونه په **۲۰۰۵** کې، د څارویو له لاسه ورکول تر ټولو مهم لامل ګڼل شوی چې کوچیان یې ځای کولو ته هڅولي.

دویمه نقشه: له شخړو څخه مخکې د کوچي ګروپونو مهاجرت




**د کوچي شپنو لپاره د تګ راتګ لويې لارې**

**منبع: http:// www. Afghanpeace.org**

# ۳. د شخړو ډولونه

د کوچیانو په ریاست کې سرچینې د شخړو لاندې ډولونه په ګوته کوي چې کوچیان په هغو کې ښکېل وي:

أ. ځړځایونو ته‌له‌لاسرسي څخه مخنیوي؛

ب. ب: د کلیو د اختصاصي ځړځایونو او د کوچیانو لپاره د عمومي ځړځایونو ترمنځ د سرحدونو په سر مخالفت؛

ج. ج: په ځړځایونو کې د کوچیانو ودانۍ؛

د. د: بزګران ځړځایونه د کرنې لپاره نیسي؛

ه. ه: د کوچیانو د رمو له‌خوا حاصلاتو ته د زیان رسولو په اړه د بزګرانو شکایتونه؛

و. و: د کوچیانو د مختلفو ټولنو ترمنځ شخړې ؛

ز. ز: د کوچیانو او حکومتي چارواکو ترمنځ شخړې.[14]

د ځمکو غصبول او د ځړځایونو ناقانونه نیول په اوس مهال کې د شخړو ډېر مهم ډول جوړوي چې کوچیان په کې ښکېل دي او د سرحدونو او موسمي کړنو(فعالیتونو ) په سر اختلافات یې هېر کړي دي.[۱۵] د کوچیانو استازي له دغه لیست سره په عموم ډول موافقه لري خو د ځمکو په غصب کې چې د شخړو یو منبعه ده د شخړو د نورو ډولونو په پرتله زیات ټېنګار کوي.[۱۷]

دغه لیکنه به د لاندې شخړو په دغو ډولونو بیا کتنه وکړي او هغه په دریو کټګوریو وېشي.

- ځړځایونو ته د لاسرسي څخه مخنیوي (د الف او و ډولونه) ؛ په سرحدونو تېری(د ب او هـ ډولونه) ؛
- د ځمکو غصب او ناقانونه نیول (ج او د ډولونه).

د "ز" ډول د دغې څېړنې په چوکاټ کې نه دی راغلی چې، د کوچي/ بزګر په شخړو باندې متمرکزه ده.

---

۱۴ د کوچیانو د خپلواک ریاست له سلاکار ډاکټر عصمت الله خوشال سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

۱۵ د کوچیانو د خپلواک ریاست له سلاکار ډاکټر عصمت الله خوشال سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

۱۲ له حاجي خان وزیر سره مرکه، ده سبز او قره باغ لپاره د خماري خېلو د شورا مشر ، اکتوبر ۲۰۱۷.

# ۴. د شخړو ډولونه: بزګران د کوچیانو لارې بندوي

## ۴.۱ بهسود

د بزګرانو د ټولنو په ذریعه د کوچیانو د کډوالۍ د لارو بندول معلومېږي چې زیاتره د هزاره جاتو په سویلي څنډو کې، په خاص ډول د وردګ ولایت د بهسودو په ولسوالۍ کې او همدارنګه د غزني ولایت په ځینو برخو کې پېښ شوي دي. بهسود په مرکزي افغانستان کې څړځایونو ته د لاسرسي لپاره یوه له مهمو لارو څخه ده او د دې لارې په بندلو سره هزاره ګانو د کوچیانو په مخ د هزاره جاتو څړځایونو ته د رسېدو لارې بندې کړې.[۱۷] یو لامل چې ولې یې لارې بندې کړې دا و چې د کلیو څړځایونو او حاصلاتو ته له زیانونو مخنیوی وشي:

> په ۱۳۸۸ کې (۱۰/۲۰۰۹) کوچیانو د لومړي ځل لپاره د کرزي په دوران کې بیا هڅې وکړې چې د افغانستان مرکزي ولایتونو ته له زرګونو څارویو سره راشي. دا زموږ لپاره ډېره ستونزمنه وه ځکه چې د دوي په زرګونو څاروي زموږ له کرنیزو ځمکو څخه تیرېدل. د کجاب په سیمه کې د دانې بارک په کلي کې چې د بهسودو ولسوالۍ په دویمې حصې پورې اړه لري جګړه ونښته. کله چې کوچیان له دانې بارک کلي څخه له زرګونو څارویو سره زموږ په کروندو تیرېدل او غوښتل یې چې خپل حرکت ته تر بامیانو ولایت پورې ادامه ورکړي، دوي د یوه بزګر له خوا ودرول شول چې نه یې غوښتل دوي ته له دې ځمکه د تېرېدو اجازه ورکړي خو دوي پر هغه ډزې وکړې او و یې واژه. له دې وروسته د هزاره ګانو او کوچیانو ترمنځ جګړه پیل شوه. [.....]. څرنګه چې د وردګو ولایت د کوچیانو لپاره د بامیانو او غور ولایتونو ته د ننوتو دروازه ده، خو دوي له زرګونو څارویو سره تیرېږي او زموږ ځمکو او ابادیو ته تاوان رسوي.[۱۸]

شخړه ډېرې ژورې تاریخي ریښې لري چې په ۱۹ پېړۍ کې نوي افغاني دولت کوچیان د دې لپاره استعمال کړل چې هزاره ګان د ځان تابع کړي. [۱۹]

> پخوانی حکومت یو پښتون پلوه حکومت و او نور قومونه، په خاص ډول هزاره ګانو تر ۱۳۵۸ پورې د پخوانیو حکومتونو لپاره ډېر ارزښت نه درلود. ۱۳۵۸ کې د مجاهدینو ډلې په مختلفو برخو کې راڅرګندې شوې. کله چې یعقوب خان د کابل والي و، ده یو امر صادر کړ چې له مخې یې کوچیانو اجازه درلوده د افغانستان د مرکزي ولایتونو له څړ ځایونو څخه استفاده وکړي. څرنګه چې موږ ځواک نه درلود، دوي زموږ له څړځایونو څخه استفاده کوله او د هزاره ګانو په وړاندې یې ډېر جرمونه کړي دي.[....] موږ دوي ته د هر کار اجازه ورکړه او موږ په خپله چپ پاتې شولو دغه دلیل و چې هیڅ شخړه هلته نه وه. د حبیب الله خان د حکومت، ظاهر شاه او نورو نقش داسې و لکه څنګه چې طالبان و.[۲۰]

په ۲۰۰۹ ز کال کې د شخړې له پیل راهیسې، په دې شخړو کې ډېر کم بدلون راغلی. دې بهسودو شخړه دوه کچې لري. د بهسودو هزاره بزګرانو ښایي تر ټولو زیات زیانونه د کوچیانو له موسمي کډوالیو څخه لیدلي وي ځکه چې دغه ځای د زرګونو زرګونو څارویو لپاره د داخلېدو ځای و. د کلیو هغو څړځایونو ته چې سرحدات یې معلوم نه وو او د حاصلاتو ساتنه یې نه کېده، زیانونه ډېر زیات وو او ښایي له بل هر ځای څخه ډېر وو ځکه کوچیان له دې ځای نه وروسته لارې سره جلا کوي.[۲۱] په داسې حال کې چې ډېری کوچیان د کلیو څړځایونو او حاصلاتو ته د دوي له خوا زیانونه نه مني [۲۲]، ځینو کوچیانو په مرکو کې منلې ښایي داسې څه پېښ شوي وي:

> حکومت باید له دغو قومندانانو او هزاره ګانو او همدارنګه له موږ څخه وسلې ټولې کړي او دوي ته وواېي چې کوچیان په غرونو کې پرېږدي او کوچیانو ته وواېي چې د هزاره ګانو په کروندو تېرې و نه کړي خو د افسوس ځای دی چې حکومت او هزاره ګان نه غواړي چې دغه مسأله حل شي. [۲۳]

---

۱۷ د ورېښو د ریاست له کارمند سره مرکه.

۱۸ د کجاب په ساحه کې د بهسودولسوالي د لته بند د کلي د بزګرانو د ټولنې له مشر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۷.

۱۹ ایس ای مسوي، دافغانستان هزاره ګان (لندن: کرزن، ۱۹۹۸)؛ حسن کاکړ، د افغانستان سیاسي او ډیپلوماتیک تاریخ ۱۸۲۳-۱۹۰۱ (لیدن: بریل ، ۲۰۱۲)؛ د کجاب په ساحه کې د بهسود ولسوالي د لته بند د کلي د بزګرانو د ټولنې له مشر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۷.

۲۰ د کلي له مشر سره مرکه، د سرچشمه ساحه د کاروانې کلی، فبروري ۲۰۱۷.

۲۱ د کجاب ساحه د بهسودد ولسوالي دومه حصه، د کنداب د کلي د بزګرانو د ټولنې له مشر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۷؛ د کلي له مشر سره مرکه، د سرچشمه ساحه د کاروانې کلی، فبروري ۲۰۱۵.

۲۲ په میدان وردګ ولایت کې د کړو خېلو د قبیلې د کوچي مشر سره مرکه، ۲۲ د نوومبر ۲۰۱۲.

۲۳ په میدان وردګ ولایت کې د کړو خېلو د قبیلې د کوچي مشر سره مرکه، ۲۲ د نوومبر ۲۰۱۲.

د هزاره بزګرانو څخه په عموم ډول اورېدل کیږي چې په ۱۹۸۰ او د ۱۹۹۰ ز لومړۍ نیمایي کې هزاره جات د هزاره ګوندونو او نظامي سازمانونو تر ولکې لاندې و. دغو سازمانونو د ۱۹۸۰ لسیزې څخه هیسته کوچیانو ته اجازه ورنه کړه چې هزاره جاتو ته ننوځي. په دغه وخت کې د وسله وال تاوتریخوالي او جګړو کیسې پیل شوې.

وروسته د طالبانو د اسلامي امارت په دوران کې (۱۹۹۲-۲۰۰۱) د کوچیانو بیا واکمنیدل بیا په دې تمام شول چې دوی نه یوازې هزاره جاتو ته لاسرسی پیدا کړ بلکې د حرکت په وخت کې یې په ډېر بې باکه ډول چلند کړی چې هزاره ګانو اوس هغوي مات کړي او بې وسلې کړي دي. د امارت تر ړنګیدو وروسته د بزګرانو په وینا کوچیانو هڅه وکړه چې خپلو نامنظمو کډوالیو ته ادامه ورکړي خو د هزاره ټولنو او سازمانونو له خوا له غبرګونونو سره مخامخ شول.

> له طالبانو مخکې د مجاهدینو وخت و او هزاره ګانو د افغانستان په مرکزي ولایتونو کې پوره واک درلوده او کوچیانو نشو کولای چې له ۱۳۵۸ څخه هیسې هلته راشي [.....]. شخړه د کرزي د حکومت په لومړیو وختونو کې پیل شوه، ځکه د طالبانو په وخت کې کوچیانو پوره ځواک درلود او هزاره ټولنې بې واکه وې. په افغانستان کې د طالبانو په څلور کلنه دوره کې کوچیانو زموږ په ډېرو کرنیزو ځمکو ولکه درلوده او موږ نه شو کولای چې د دوي په وړاندې ودریږو. کله چې د کرزي حکومت تاسیس شو، کوچیانو بیا فکر وکړ چې دوي به دومره ځواک ولري لکه څنګه چې د طالبانو په وخت کې درلود او دوي کولای شي زرګونه څاروي د بهسودو او دای مرداد د ولسوالیو له کلیو څخه تېر کړي او د افغانستان مرکزي ولایتونو ته ورسیږي لکه بامیان او غور. خو موږ (هزاره ګان) بې ځواکه او دومره کمزوري نه وو لکه د طالبانو په وخت کې او کله چې د لومړي ځل لپاره په ۱۳۸۲ کې د کرزي حکومت په موده کې کوچیان له زرهاوو څارویو سره زموږ کلیو ته راغلل، البته کله چې په زرهاوو څاروي ستاسو له کروندو څخه تېریږي دوي حاصلات په بشپړ ډول له منځه یوړل. موږ د کوچیانو په وړاندې ودریدو، دوي پرموږ برېد وکړ. په هغه وخت کې موږ ډېره سلا نه درلوده مګر په هر صورت له دوي سره وجنګېدلو او ډېر خلک له دواړو خواوو څخه ووژل شول. شخړه د کرزي د وخت په لومړیو وختونو کې پیل شوه وروسته موږ پوه شوو چې حکومت د ستونزې د حل کولو اراده نه لري، له دې امله موږ خپل څاروي (غواوې او پسونه) وپلورل چې سلاوې واخلوو او له کوچیانو سره وجنګیږو.[۲۴]

ځایي هزاره برګزان په معمول ډول د هزاره جاتو له نورو برخو څخه او له هزاره ګوندونو او ډلو څخه د مرستو اخیستل نه مني؛ دوي ادعا کوي چې خپل څاروي یې خرڅ کړي څو سلاوې راونیسي لکه څنګه چې مخکې وویل شول.[۲۵] په هر حال، داسې نه معلومیږي چې ځایي بزګرانو کولای شوای مقاومت وکړي بې له دې چې د هزاره ګانو له ګوندونو او له پخوانیو ملېشه قومندانانو څخه مرستې تر لاسه کړي. دغو قومندانانو د راپورونو له مخې د بهسودو د هزاره ګانو د ملاتړ لپاره په سل هاوو کسان قوي کړل. همدارنګه کوچیانو هم نه ده منلې چې له بهر څخه یې مرستې تر لاسه کړې خو په منظم ډول په دې تورن دي چې ځینې وختونه له طالبانو سره یو ځای شوي او کله بیا د کوچیانو له قوي مشرانو سره یو ځای شوي چې په پایله کې یې د کوچیانو او هزاره ګانو ترمنځ وسله والي شخړې پېښې شوې او هر کال یې په لس هاوو قربانیان ورکړي دي.[۲۶] د کوچیانو سرچینی لیږ تر لیږه مني چې له خپلو قومي شوراګانو څخه یې مرستې تر لاسه کړې دي:[۲۷]

> موږ د کړوخېلو قوم یوه شورا لرو. که چېرې دوي موږ سره مرسته و نه کړي موږ به هم ملاتړ و نه کړو. زموږ ټولنې د پیسو مرسته کوي او دغه راز دوي موږ ته سړي هم را لیږي کله چې موږ له بل قوم سره په جګړه کې یو. که دا جګړه په خوست، ننګرهار، لوګر، کندهار یا بل هر ځای کې وي.[۲۸]

---

۲۴ د کلي له مشر سره مرکه، د سرچشمه ساحه د کارواني کلی، فبروري ۲۰۱۵.

۲۵ د کلي له مشر سره مرکه، د سرچشمه ساحه د کارواني کلی، فبروري ۲۰۱۵؛ د کجاب په ساحه کې د بهسودولسوالي د لته بند د کلي د بزګرانو د ټولنې له مشر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۷.

۲۶ د کجاب په ساحه کې د بهسودولسوالي د لته بند د کلي د بزګرانو د ټولنې له مشر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۷.

۲۷ په افغانستان کې د کوچیانو د شورا له غړي سره مرکه، کابل ، جون ۲۰۱۷.

۲۸ په میدان وردګ ولایت کې د کړو خېلو د قبیلې د کوچي مشر سره مرکه، ۲۲ د نوومبر ۲۰۱۲.

د کوچیانو سرچینو منلې چې له غیر کوچي او ځینو ملی پښتنو سیاستوالو څخه یې مرسته تر لاسه کوي.[۲۹] لږ تر لږه دوو مرکه ورکوونکو منلې چې د کوچیانو له یوه مشر څخه مرسته تر لاسه کوي.[۳۰] یوه بل کس ومنله چې یوه یاغي سازمان هم دوي ته سلاوې ورکړې دي.[۳۱] بل کس ومنله چې طالبان هم په ځینو وختونو کې مخکې له پرېښولو له کوچیانو سره مرسته کړې ده. [۳۲]

د بهسودو شخړې کوچیانو ته ډېر زیات اقتصادي زیانونه ورسول، هغو کوچیانو ته چې په مرکزي هزاره جاتو کې یې څرځایونو ته لاسرسی نه درلود. په ځینو حالاتو کې کوچیانو د خپلې کډوالۍ لارې بدلې کړې او په افغانستان کې نورو خواوو ته د څرځایونو لپاره ولېږدېدل. ځینو یې خپل څاروي هم له لاسه ورکړل. دغه راز ځایي بزګرانو هم د کوچیانو په شان هم دومره زیانونه ولیدل: [۳۳]

> په حقیقت کې د کوچیانو په بیرته ګرځولو سره موږ نه شو کولای چې په ځمکو کې څه شي ته وده ورکړو ځکه هر کال یې جنګونه وي او په هر ځل یې دغه جنګونه کرنیزې ځمکې او کورونه ویجاړوي.[۳۴]

ګوندونو او پلویانو هم په جنګ کې ښکېلو ډلو ته سیاسي ملاتړ ورکوه. دغه کار د شخړو په سیاسي کولو او "ملیتي کولو" تماميږي او رسنیو هغه په پراخه پیمانه تر پوښښ لاندې ونیولې. د شخړو ځایي لاملونو په تدریجي ډول خپل ارزښت بایللی او په ځای یې پراخ سیاسي مخالفتونه رامنځ ته کړي. د کرنې اوبو لګونې او څارویو د وزارت یو چارواکی وایي:

> دغه اختلاف د شنو ونو مسأله نه بلکې یو سیاسي مخالفت دی. دغه ستونزه د ځمکو د قانون په ذریعه چې د ورشوګانو د استعمال په باره کې دی، نه شي حل کېدای. د دغو شخړو د حل کمیسیون موږ ته یو ځلې هم نه دی راغلی او د څرځایونو د قانون په اړه یې له موږ څخه پوښتنه نه ده کړې. دا یوه سیاسي مسأله ده؛ ډېر لوړ پوړي چارواکي او حتی بهرني هیوادونه په دې شخړه کې مداخله کوي.[۳۵]

که څه هم د بهسودو شخړه د کوچي- بزګر شخړې په افغانستان کې په یوې ډېرې تاوتریخجنې جګړې بدله شوې، د دې امکان شته که د کوچیانو د کډوالۍ لارې بېرته خلاصې شي، شخړې به مرکزي لوړو ځمکو ته وغځیږي. که څه هم په کمزورې شکل کې. د مثال په ډول، په مالستان کې مرکه ورکوونکو د لارو له بندولو راهیسې کوچیان نه دي لیدلي مګر و ښودله که کوچیان بیا راشي دوي به جګړه ورسره وکړي.[۳۶]

څرنګه چې کوچي ځمکه لرونکو و نه شو کولای په هزاره جاتو کې خپلو ځمکو ته ورسیږي، په پایله کې د ځمکو په سر د شخړو یوه لړۍ راپیدا شوه چې د کوچي- بزګر په شخړه یې اغیز وغورځاوو. ځایي بزګران او د راپورونو له مخې ځینو ځایي مشرانو، چې په معمول ډول د ځایي چارواکو له خوا یې ملاتړ کېږه د کوچیانو ځمکې ونیولې او اوس له دې سره لیوال نه دي چې کوچیان بیا په مرکزي لوړو سیمو کې خپلو ځمکو ته لاسرسی ولري؛ ښایي دوي په بهسود او دای میرداد کې هم بزګرانو ته له همدې امله مرستې ورسوي.[۳۷] په بامیانو کې یوې ځایي سرچینې منلې ده چې د کوچیانو ځینې ځمکې د هزاره قومندانانو له خوا ونیول شوې او ځینې نورې ځمکې بیا هغو بزګرانو ونیولې چې په دغو ځمکو یې کار کاوه. د سرچینې په وینا، په بامیانو کې د کوچیانو ۸۰٪ ځمکې نیول شوې یا غصب شوې دي. قومندانان په معمول ډول ځمکې اوس هم هغو بزګرانو ته پرېږدي چا چې دغه ځمکې له کوچیانو څخه په اجاره نیولې وي. [۳۸]

د کوچیانو د ایستلو په غرض هزاره مرکه ورکوونکو یو بل دلیل داسې بیان کړی چې کوچیان له ترهګرو سازمانونو سره اړیکې لري. د راپورونو له مخې ډېر هزاره ګان وېره لري که کوچیان بېرته هزاره جاتو ته راشي، دوي به هزاره جات هم د پښتنو سیمې په شان نا ارامه او بې ثباته کړي.[۳۹]

---

۲۹ په میدان وردګ ولایت کې د کړو خېلو د قبیلې د کوچي مشر سره مرکه، ۲۲ د نوومبر ۲۰۱۲؛ د ناصرو دکوچي مشر سره په میدان وردګ ولایت کې د سرچشمې په ساحه کې مرکه، نوومبر ۲۰۱۲.

۳۰ د ناصرو دکوچي مشر سره په میدان وردګ ولایت کې د سرچشمې په ساحه کې مرکه، نوومبر ۲۰۱۲؛ په افغانستان کې د کوچیانو د شورا له غړي سره مرکه، کابل ، جون ۲۰۱۷.

۳۱ د ناصرو دکوچي مشر سره په میدان وردګ ولایت کې د سرچشمې په ساحه کې مرکه، نوومبر ۲۰۱۲؛

۳۲ په افغانستان کې د کوچیانو د شورا له غړي سره مرکه، کابل ، جون ۲۰۱۷.

۳۳ د کجاب ساحه د بهسودد ولسوالی دومه حصه، د کنداب د کلي د بزګرانو د ټولنې له مشر سره مرکه، فبروري ۲۰۱۷؛

۳۴ د کلي له مشر سره مرکه، د سرچشمه ساحه د کاروانې کلی، فبروري ۲۰۱۵.

۳۵ د ورښو د ریاست له کارمند سره مرکه. دویم د جنوري ۲۰۱۷.

۳۶ په مالستان کې له دریبو هزاره بزګرانو سره مرکې وشوې او ټولو مشابه نظریات درلودل.

۳۷ په افغانستان کې د کوچیانو د شورا له غړي سره مرکه، کابل ، جون ۲۰۱۷؛ د کوچي له مشر سره مرکه، د جلال خېلو قبیله، میدان وردګ ولایت، جون ۲۰۱۷؛ د کوچي له مشر سره مرکه، د بارام خېل قبیله لوګر، جون ۲۰۱۷.

۳۸ د کلي له مشر سره مرکه، پنجاب ولسوالی د بامیان ولایت، جولای ۲۰۱۷.

۳۹ د کلي له مشر سره مرکه، پنجاب ولسوالی د بامیان ولایت، جولای ۲۰۱۷.

له بلې خوا کوچیان وېره لري چې که دوي له هزاره جات څخه لاس په سر شي، ډېر ژر به په ټول هیواد کې له نورو ځرځایونو څخه بې برخې شي. ځکه په دې حالت کې به هره بزګره ټولنه شاید احساس کړي چې له کوچیانو سره مقابله کول ممکنه ده کله چې دوي د سرچینو په کمښت مبتلا شي.

> موږ به له دوي سره وجنګېږو ځکه که موږ دا کار و نه کړو هغوی به موږ ته اجازه را نه کړي چې دلته راشو، سبا به خلک په شمال کې هم موږ ته اجازه را نه کړي او بل ځلې به په سویل کې خلک موږ له ورتګ څخه منع کړي.[40]

د هزاره ګانو مشران ځینې وختونه وایي چې دوي به په ځینو شرایطو کوچیانو ته د ځرځایونو اجازه ورکړي لکه د مثال په ډول که دوي خپل څاروي په ټیکټرو کې ولېږدوي. په ټیکټرو کې د څارویو لېږدول د کوچیانو ترمنځ اوربدل شوي، خو ټول کوچیان نه شي کولای چې د دې موخې لپاره لارۍ په کرایه ونیسي.[41]

## ۴.۲ مالستان

د مالستان قضیه د بهسودو هغې په پرتله په ګرانه سره ارزول کېدای شي. د ملاخېلو کوچیان ادعا کوي چې له ۲۰۰۸ ز څخه را په دې خوا دوي په مالستان کې ځرځایونو ته لاسرسی نه درلود او دغه راز په لوړو پرتو ولسوالیو کې لکه ناهوراو جاغوري کې هم ځرځایونو ته لاسرسی نه درلود. سره د دې، د هزاره ګانو ځایي مشران ادعا کوي چې د دوي او د کوچیانو ترمنځ اوس شخړې نشته او کوچیانو له ۲۰۰۱ ز څخه را په دې خوا هڅه نه ده کړې چې دغې ساحې ته ورشي.[42] کوچیان ادعا کوي چې:

> د هزاره جاتو خلک له موږ سره تر اوسه هم هیڅ یوه ستونزه نه لري؛ موږ هلته ورځو دوي موږ ته راځي او وایي چې ("موږ له تاسو سره هیڅ ستونزه نه لرو، دا زورور خلک دي. دوي په موږ فشار راوړي چې کوچیانو ته اجازه ورنکړو. " عام خلک له موږ سره هیڅ ستونزه نه لري، دا زورور خلک دي او مافیا ده چې زموږ لپاره ستونزې پیداکوي.[43]

جالبه داده څنګه چې د بهسودو په برخه کې پورته د هزاره ګانو په باره کې وویل شوه چې له بې ثباتي څخه وېره لري، د کوچیانو د سرچینو په وینا، هزاره ګانو د لاسرسي د ورکولو په موقع د قومونو ترمنځ تبعیض کوي. په داسې حال کې چې ځینې کوچي قومونو لکه ناصر، دولت زي او اسماعیل خېلو اجازه درلوده چې ځرځایونو ته ورشي خو ملاخېل قوم ته دغه اجازه نه وه، ځکه په دوي دا تور و چې له طالبانو او داعش سره اړیکې لري. که څه هم، د ۲۰۱۷ ز کال په پسرلي کې دغه ساحه ارامه وه، د ملاخېلو یوې سرچینې ادعا وکړه چې "که زموږ دغه ستونزه حل نه شي، موږ به له هر ډول تاوتریخوالي څخه کار واخلو. " سرچینه له ترهګرو سره د اړیکو ګواښ هم وکړ که چېرې د لاسرسي په اړه په خبرو اترو کې پرمختګ و نه شي.[44]

د بهسودو په شان، کوچیان په دې ټینګار کوي چې دوي د خپلو لویو رمو د مړولو لپاره په هزاره جاتو کې ځرځایونو ته د لاسرسي اړتیا لري. د کوچیانو یوې سرچینې توضیح کړه چې " که هزاره ګان موږ ته اجازه را نه کړي نو موږ اړ یو چې په تاوتریخوالي لاس پورې کړو. ځکه موږ بله چاره نه لرو. په هزاره جاتو کې ډېر ښه وابنه شته. "[45]

حتی که هزاره مرکه ورکوونکو له کوچیانو سره د اوسنیو شخړو له شتون څخه انکار کړی، دوي دغه خبره په دې دلیل توضیح کړې چې د لاسرسي لاره بنده شوې ده. په ساده ډول، کوچیانو دغه بندښت نه دی ننګولی. د هزاره مشرانو په وینا، بندښت د دې حقیقت په ذریعه توجیه شوی چې هیڅ وخت داسې یو افسانوي وخت نه دی تېر شوی چې هزاره ګان د په خوشحالي سره کوچیانو ته اجازه ورکړي چې د هزاره جاتو ځرځایونو ته ورشي.[46]

---

۴۰ د کلي له مشر سره مرکه، بهسودا ، میدان وردګ ولایت، کابل ۲۰۱۶.

۴۱ د سرچشمه ساحه د کارواني کلی، ده مرداد ولسوالي، فبروري ۲۰۱۷.

۴۲ د کلي له مشر سره مرکه، بخارا کلی، مالستان ولسوالی، مارچ ۲۰۱۷.

۴۳ د کوچي له مشر سره مرکه، ملاخېلو قبیله، اپریل ۲۰۱۷.

۴۴ د کوچي له مشر سره مرکه، ملاخېلو قبیله،غزني ولایت اپریل ۲۰۱۷.

۴۵ دکوچیانو له مشر سره مرکه، د سلیمان خېلو قبیله، مارچ ۲۰۱۷.

۴۶ د کلي له مشر سره مرکه، دیدا قارو کلی، مالستان ،مارچ ۲۰۱۷.

## ۴.۳ له هزاره جاتو څخه بهر

له هزاره جاتو څخه بهر د بزګرانو داسې ټولنې ډېرې کمې دي چې د کوچیانو د لاسرسي مخنیوی وکړي، ځکه چې په دې ساحه کې داسې خلک کم اوسیږي چې د نژاد له پلوه ملګري وي او ګډې ګټې ولري چې کوچیان له هغه ځایه اوباسي. سره د دې هم، موږ په خپلو څېړنو کې د بزګرانو بله نمونه هم لرو چې څړځایونو ته یې د کوچیانو مخنیوی کړی دی. دغه بزګران د کندوز ولایت د کلام ګذر په ساحه کې اوسي. دلته د خروټو، اکاخېلو او اندړو بزګرانو هڅې کړې چې ازبک کوچیان له هغو څړځایونو څخه منع کړي چې دوي تر ۲۰۱۳ ز پورې هلته ورتلل. بزګرانو ادعا کوله چې دوي د خپلو څارویو لپاره دغو څړځایونو ته اړتیا لري. دلته هم هغه معموله طریقه تکرار شوه چې ازبکو یا پښتنو سیاستوالو او متنفیذینو ته د مرستې لپاره مراجعه وشوه. [۴۷] پښتنو بزګرانو دغه راز شکایت وکړ چې کوچیانو د دوي حاصلاتو ته زیان رسولی، د څښاک اوبه یې ناولې کړې او د دې قصد یې درلود چې هلته مېشته شي.[۴۸]

د کوچیانو د مخنیوي ځینې نورې قضیې د کوچي- بزګر د بېل ډول شخړو محصول دي، په خاص ډول داسې شخړې چې څړځایونه په کرنیزو ځمکو او کورونو بدل شوي. (لاندې برخه وګورئ). کله چې د کوچیانو دغه قصد څرګند شو چې غواړي په یوه مشخصه سیمه کې مېشت شي، بزګرانو په ځینو حالاتو کې د دوي لارې بندې کړې او څړځایونو ته یې نه دي پرې اېښې. د څېړنې ټیم دغه ډول قضیې په خاک جبار کې موندلې، چې کابل ښار ته ډېر نژدې دی:

> پخوا موږ په چاربازګی کې للمه کرله خو اوس موږ هغه نه کړو ځکه چې موږ ته یې کمه ګټه رسیږي. سره د دې، موږ ۱۰۰ کسان ټاکلي دي چې دغه ساحه کنټرول کړي او کوچیان پرېنږدي چې هلته راشي. دغه خلک د دې شخړو له امله کار هم نه کوي.[.....] له دې ایسته موږ کوچیانو ته اجازه نه ورکوو حتی که دوي یوازې غواړي خپل څاروي د څرلو لپاره هلته راولي. دوي له موږ سره دوکه کوي: په لومړي سر کې دوي ټول وایي چې یوازې خپل څاروي د څرلو لپاره هلته راولي، خو وروسته بیا ادعا کوي چې دغه ساحه په دوي پورې اړه لري. که موږ دوي ته ځای ورکړو دوي هلته خپلې خېمې دروي او له موږ څخه ځمکې نیسي.[۴۹]
>
> اوس د خاک جبار او "د کوچیانو د مشر" تر منځ ستونزه حل شوه ولې بیا هم د خاک جبار خلک موږ او زموږ څاروي نه پرېښندي؟ موږ کولای شو ووایو چې د دغو خلکو شاه ته مافیا او زورواکي ولاړ دي. اوس حکومت هم د هغوی پلوي کوي، ولې دوي کوچیانو ته اجازه نه ورکوي؟ دغه دښتې په دوي پورې اړه نه لري، دغه دښتې د حکومت دي؟ [.....] دوي ښارګوټي جوړوي او اوس هلته له ۲۰۰۰۰ څخه زیات کورونه جوړ شوي دي. دغه ښارګوټی زموږ او د خاک جبار د خلکو تر منځ د ستونزو لامل دی؛ دوي وایي چې په چاربازګي دښتې کې به هم دغه ډول ښارګوټي او کورونه نه جوړوو، موږ یوازې خپل څاروي د څرلو لپاره هلته راوړو. څه شی چې له کوچیانو سره کیږي ظلم دی ځکه چې دوي د کوچي له (زورواکی) سره ستونزه لري خو هیڅ کوچي ته د ورتګ اجازه نه ورکوي.[۵۰]
>
> (کوچي زورواکی) کوچي اباد ونیو او اوس غواړي د خاک جبار چاربازګی هم ونیسي له هغه وروسته چې د خاک جبار خلکو موږ (کوچیان) هلته له ورتګ څخه منع کړو. دوي په موږ بدګمانه دي چې موږ غواړو دغه ساحه لاندې کړو، خو دا حقیقت نه دی. موږ یوازې غواړو خپل څړ ځایونو ته راوړو.[۵۱]

په خوست کې هم داسې یوه قضیه وه چې د کوچیانو پر مخ لار بنده شوې وه ځکه چې د دوي او ځایي خلکو ترمنځ جګړه نښتې وه.

---

۴۷ د کوچیانو له مشر سره مرکه، ازبکبیګ قبیله، کلام ګذر ساحه، اپریل ۲۰۱۷.

۴۸ د کوچیانو له مشر سره مرکه، اندړ قبیله، امام‌صاحب‌ولسوالي، کندز ولایت، اپریل ۲۰۱۷؛ د کلي له مشر سره مرکه، کول اکاخېل ساحه امام‌صاحب، اپریل ۲۰۱۷.

۴۹ د کلي له مشر سره مرکه، د ملنګ کلی، فبروري ۲۰۱۷.

۵۰ د کوچي له مشر سره مرکه، اکبر خېل قبله، مارچ ۲۰۱۷

۵۱ د کوچیانو له مشر سره مرکه، د بابر قبیله، ازره ولسوالي، لوګر، جنوري ۲۰۱۷.

> زموږ دولت زي قوم د خوست له خلکو سره شخړه نه لرو؛ نیازي کوچیان د خوست له خلکو سره شخړه کوي. خو د خوست خلک موږ ته هم اجازه نه راکوي چې خپل څاروي دغو ځایونو ته راولو. کله چې د نیازي قوم او خوستیانو ترمنځ جګړه ونښته، له دواړو خواوو څخه خلک ووژل شول. له هغه وروسته خوستوالو موږ ته هم اجازه را نه کړه چې له ۲۰۰۳ز څخه وروسته د ډیرای څرځایونو ته خپل څاروي راولو. موږ خوستوالو ته وویل چې دوي له نیازي کوچیانو سره شخړه لري او موږ یوازې غواړو خپل څاروي په دغو ساحو کې ماړه کړو. په ۲۰۰۵ز کې دوي په موږ برید وکړ او زموږ خلک یې ووهل؛ یو سړی ووژل شو او دوه نور زموږ په خوا کې ټپیان شول. دوي دغه راز زموږ څخه ۲۰۰ څاروي هم غلا کړل. یو کال د مخه زموږ شخړه له خوستوالو سره ختمه شوه. [...] مخکې له دې زموږ دولت زي خلک چې به هر ځای ته تلل لکه لکنړ، چینو، شمل خوار، دیرای او نورو ځایونو ته، هیڅ ستونزه نه وه، خو کله چې نیازیانو غوښتل غنم، جوار او نور شیان په دې ساحو کې وکړي او کورونه جوړ کړي، هلته بیا جګړه پیل شوه. [52]

بله بېلګه چې بزګرانو د کوچیانو لار بنده کړې وه په فراه کې پېښه شوه. هلته الکوزي بزګرانو د کوه دانک، غلام سخي کلا، کاریزک او شور اباد کلا په شاوخوا کې هڅه وکړه چې د بلوچ کوچیان څرځایونو ته پرېنږدي. [53]

په ډېرو نورو ځایونو کې هم مرکه ورکوونکو داسې قضیې په ګوته کړې دي چې څرځایونو ته په کې د لاسرسي مخنیوی شوی، که سروې په دغو ساحو کې شوې هم نه ده:

> همدا ډول د سروبي خلک هم موږ ته اجازه نه راکوي چې خپل څاروي غرونو ته بوځو. دغه راز موږ په شمالي ولایتونو کې هم له ډېرو ستونزو سره مخ یو؛ زموږ څاروي ووژل شول او دوي حتی زموږ رنځوران خلک هم په روغتونونو کې هم ونه منل. [.....] کوچیان کولای شي په هر ځای کې تذکره واخلي، خو په شمال کې موږ ته تذکرې نه راکول کیږي. [54]

> موږ یوازې په فراه ولایت کې ستونزه نه لرو، بلکې په نورو ځایونو لکه د میدان وردګ ولایت، غزني ولایت، او د افغانستان په شمال کې ډېرې ستونزې لرو، خو افغان حکومت زموږ ستونزې حل نه کړې. دغه دلیل دی چې موږ مجبور یو له نورو سازمانونو څخه مرسته وغواړو چې هغه طالبان دي.[55]

په لنډ ډول، څرځایونو ته د کوچیانو منع کول داسې بربښي چې د ځایي ټولنو ترمنځ په یوه عامه تګلاری بدلیږي، چې ښایي د بهسودو د اصلي قضیې له خوا یې الهام اخیستی وي. هغه کوچیان چې استدلال کوي د هزاره جاتو له څرځایونو څخه صرف نظر ښایي نورې ټولنې هم دې ته وهڅوي چې څرځایونو ته د کوچیانو مخنیوی وکړي، حق په طرف دي.

۵۲ د کوچیانو له مشر سره مرکه، دولت زی قبیله، دیرای، خوست ولایت، اپریل ۲۰۱۷.

۵۳ د کوچیانو له مشر سره مرکه، بلوچي، فراه، جون ۲۰۱۷.

۵۴ د کوچیانو له مشر سره مرکه، اکبر خېل قبیله، مارچ ۲۰۱۷.

۵۵ د کوچیانو له مشر سره مرکه، ناصر قبیله، فراه ولایت، جون ۲۰۱۷.

## ۴.۴ کوچیان د نورو کوچیانو مخنیوی کوي

یوه ځانګړې قضیه چې کوچیان څړځایونو ته د لاسرسي په وخت کې له محدودیت سره مخامخ کیږي دا ده لکه څرنګه چې دوي د هزاره جاتو څړځایونو ته له ورتګ څخه منع شول، نو یې خپلې لارې بدلې کړې. له دې وروسته دوي له نورو کوچیانو سره د څړځایونو په سر سیالي پیل کړه. دغه قضیه هغو څړځایونو کې پېښه شوه چې فراه ولایت مرکز ته نژدې وو چېرې چې بلوچ کوچیان چا چې معمولا د ژمي موسم هلته تېراوه یو ناڅاپه د زابل ولایت د ناصر د قوم له پښتنو کوچیانو سره په سیالي کې ولوېدل. په دې قضیه کې بلوچ کوچیانو چې غوښتل یې خپلې رمې هزاره جاتو ته بوځي په ۲۰۰۷ ز کال کې د ناصرو کوچیانو له خوا منع شول؛ کله چې د ناصرو کوچیان پخپله هزاره جاتو ته له تګ څخه منع شول، دوي هڅه وکړه چې خپل څاروي فراه ته بوځي، دغه ځای و چې دوي د بلوچو کوچیانو له خوا له ورتګ څخه منع شول. [۵۲]

د ناصرو یو مشر دغه پېښه دا ډول بیان کړې:

> زموږ جګړه له بلوچ کوچیانو سره په **۲۰۱۵**ز کې هغه وخت وشوه کله چې دوي موږ د خارملوک په دښته کې ودرولو. دوي موږ ته اجازه را نه کړه چې دغو سیمو ته ننوځو. موږ دوي ته وویل چې تاسو هم کوچیان یې موږ هم. تاسو هم خپل څاروي باید دغو څړځایونو ته بوځئ او موږ هم غواړو دغه کار وکړو. بلوچ کوچیانو موږ ته وویل چې دوي د نورزیو او الکوزیو قبیلو سره هوکړه کړې ده او په پایله کې یې دوي دغه ساحې د څړځایونو په حیث استعمالوي او موږ ته اجازه نه راکوي. موږ (ناصر کوچیان) بلوچ کوچیانو ته وویل چې " تاسې پریکړه کړې ده چې د نورزیانو کروندو ته به چې حاصلات یې اخیستي وي خپل څاروي ورولئ، خو دغه پریکړه ناصر قبیله هم له دې څخه نه منع کوي چې خپل څاروي هلته بوځي. " دغه ځمکې په دوي پورې اړه نه لري. دوي موږ منع کړو زموږ او دوي ترمنځ څو ځله جګړې وشوې. [۵۷]

په داسې حال کې چې ناصر کوچیان ادعا کوي بلوچان له قاچاقبرانو او د طالبانو له کوټې له شورا څخه ملاتړ ترلاسه کوي، یو بلوچ کوچي ومنله چې له ډېرو ګوندونو څخه یې مرسته غوښتې خو ډېر څه لاس ته نه دي ورغلي. [۵۸]

> تر هر څه رومبی موږ غواړو چې حکومت زموږ شخړه ختمه کړي؛ که حکومت شخړه ختمه نه کړي بیا موږ اړ یو ځایي خلکو ته مراجعه وکړو. که دغه خلک هم زموږ شخړه حل نه کړي، په دې صورت کې به موږ طالبانو ته مخ واړوو چې زموږ شخړې ختمې کړي. که طالبان هم له موږ سره د شخړو په ختمولو کې مرسته و نه کړي بیا به موږ داعش ته راوګرځو چې زموږ اختلافات حل کړي، ځکه داعش نن ورځ په افغانستان کې شتون لري. په حقیقت کې موږ غواړو خپلې شخړې ختمې کړو که یو شخص، یوه ډله، یا سازمانونه زموږ شخړې ختمې کړي موږ ته ټول یو شان دي چې څوک زموږ مخالفتونه حل کوي. [۵۹]

د ناصر کوچیانو یو مشر ومنله چې د حزب اسلامي قومندانانو څخه او د طالبانو د رسول شورا او د کوچیانو د یوه زورواکي څخه مرسته غوښتې او ترلاسه کړې ده. [۶۰]

د کوچیانو ترمنځ خپلې شخړې څرګندوي چې د سرچینو کمښت په ریښتینې ډول د شخړو یوه لویه انګېزه ده او دغه انګېزه له هغو مخالفتونه څخه بېله ده چې د ژوند د مختلفو سبکونو ترمنځ را پیدا کیږي. د کوچیانو مختلفې ټولنې چې له بهرنیو حزبونو، یاغي ډلو او زورواکانو څخه مرستې غواړي او په دې ډول دغه شخړې پر مخ بیایي. دغه ریښتیا د کوچي- بزګر د شخړو په هکله چې مخکې یادې شولې هم صدق کوي.

---

۵۲ د براهویي قبیلې له مشر سره مرکه، فراه ولایت ، جون ۲۰۱۷.

۵۷ دکوچي له مشر سره مرکه، ناصر قبیله ، فراه ولایت، جون ۲۰۱۷.

۵۸ د براهویي قبیلې له مشر سره مرکه، فراه ولایت ، جون ۲۰۱۷؛ د براهویي قبیلې له مشر سره مرکه، فراه ولایت ، جون ۲۰۱۷.

۵۹ د براهویي قبیلې له مشر سره مرکه، فراه ولایت ، جون ۲۰۱۷.

۶۰ دکوچي له مشر سره مرکه، ناصر قبیله ، فراه ولایت، جون ۲۰۱۷.

## ۵. د شخړو ډولونه: په سرحدونو تېرى

معلومېږي چې د کرنې او اوبو لګونې په وزارت کې چارواکي د **۱۹۷۱**ز کال د څرځايونو قانون د خپلو اجراآتو بنسټ ګڼي. د يوه چارواکي په وينا ، " د شنو ورشوګانو د قانون له مخې دغه ځمکې په دولت پورې اړه لري او د افغانستان هر تبعه چې څاروي ولري کولای شي له دغو شنو ورشوګانو څخه ګټه پورته کړي. "[۲۱] په اساس کې د افغانستان د څرځايونو قانون د شخصي، جمعي او عمومي څرځايونو ترمنځ توپير کړی چې کوچيان يوازې عمومي څرځايونو ته لاسرسی لري. په عمل کې، دغه توپير تل ګونګ پاتې شوی: د هر کلي اختصاصي څرځای د هغې فاصلې سره برابر دی له کومې څخه چې په کلي کې اواز اورېدل کېدای شي. دغه ناڅرګنده تعريف او د کرنيزو ځمکو ، د کليو د څرځايونو او عمومي څرځايونو ترمنځ د سرحدونو نشتوالی د دې سبب ګرځي چې په اساني سره شخړې راپورته شي.[۲۲] د **۱۹۷۰** ز کال د څرځايونو قانون نه يوازې ابهامات درلودل، بلکې د پلې کيدو جنبه يې دومره کمزورې وه چې ډېری بزګران حتی په دې نه پوهېدل چې يوازې دوي حق لري د خپلو کليو له څرځايونو څخه ګټه پورته کړي:

> د ورشو ګانو په اړه زموږ خلک نه غواړي چې دغه ورشوګانې کوچيانو ته ورکړي. دوي وايي چې ورشوګانې د دوي د کليو حدود دي او حريم دی او حکومت حق نه لري چې هغه بل چا ته ورکړي. د جعفري او حنفي مذهبونو د قانون له مخې، هر کلی خپل سرحدات او حريم لري او دغه حدود يا حريم ورشوګانې دي.[۲۳]

حتی چېرې چې د قانون څخه خبرتيا هم وي، ښکاره خبره ده چې بزګران او کوچيان د هغه په تعبير سره توافق نه کوي:

> د شخصي ورشو او عمومي ورشو ترمنځ توپير شته. له عمومي ورشو څخه هر څوک کولای شي ګټه واخلي که پښتانه کوچيان دي، ازبک کوچيان ، تاجک کوچيان يا نور دي، مګر له شخصي ځمکې څخه هيڅوک نه شي کولای ګټه پورته کړي. له دې امله، دا شخصي ورشو ده؛ دوي په دغه ځمکه هيڅ شی نه کري هغه د څر لپاره پرېږدي. نه داسې نه ده. له بزګرانو سره د دغو ځمکو په اړه هيڅ ډول پريکړه نشته.[۲۴]

د کليو او عمومي څرځايونو د يوه مشخص تعريف په اړه د ډېرو کلونو لپاره خبرې روانې دي؛ د راپورونو له مخې د **۲۰۱۱-۲۰۱۲** ز کال د څرځايونو د قانون مسودې د کليو د څرځای يادونه نه ده کړې. په قانون کې دغه پرمختګ د هغو هڅو پايله بلل کيږي چې په ترڅ کې يې کوچيانو چارواکي دې ته هڅولي دي.[۲۵] د قانون اوسنۍ نسخه (**۲۰۱۷**ز) بيا د کليو د څرځايونو کلمه استعمالوي چې څومره والی يې د خپل انده قواعدو په ذريعه تعينيږي (ښايي له کلي څخه تر **۳** کلوميترو پورې فاصله).[۲۶]

---

۲۱ د وښو د رياست له کارکونکې سره مرکه،

۲۲ شريف او سفر، "د ځمکو اداره او مديريت " ،

۲۳ د کوچيانو او هزاره ګانو د منازعې د حل د کميسيون له غړي سره مرکه، ا ډسمبر **۲۰۱۲**.

۲۴ د ازبک بيک د قبيلې د کوچي مشر سره مرکه ، کلام ګذر، اپريل **۲۰۱۷**.

۲۵ ليز ادن ويلي، "په څرځايونو جګړې: په افغانستان کې ناڅرګنده جګړه "، مخ **۱۵**

۲۶ د اراضي له چارواکي سره مرکه ، سپتمبر **۲۰۱۷**.

که څه هم د سرحداتو نشتوالی او د عمومي او د کلیو د څړځایونو ترمنځ د سرحداتو ناڅرګند تعریف هیڅ کله د شخړو د سرچینې په حیث نه ده یاده شوې، خو دغه شرایط د کوچیانو او بزګرانو ترمنځ د ټکر د یوې همېشنۍ سرچینې په څېر ثابته شوې ده.[۲۷] څرنګه چې په دې ډول کلیوالي ساحو کې د پولیسو کړنې نشته، دلته په نسبي ډول کوچنۍ پېښې ډېر ژر په تاوتریخوالي بدلې شي. یوه مرکه ورکوونکي یوه پېښه بیان کړه چې په ۲۰۰۳ زکال کې کوچیانو د ځمکې د یوه ځايي څښتن زوی ووژه. دغه سړی شکایت کاوه چې کوچیان د ده په ځمکه غنم کري. کوچیان ادعا کوي چې دغه ځمکه د دوي ده کومه چې دوي پخوا اخیستې وه. له هغه وروسته ډګروال د کوچیانو په مېشت ځای برېد وکړ او ۷ تنه یې ووژل. دغه غچ اخېستنه په دې ډول پیل شوه او اوس هم ادامه لري او د دواړو ټولنو د مشرانو هڅې چې دښمني ته پایله ورکې نتیجه نه ده ورکړې حتی که مشران په دې پریکړه هم وکړي چې کوچیان به له نیول شویو ځمکو څخه شاته کیږي.[۲۸] شخړه هغه وخت پراخه شوله کله چې ځايي کلیوالو نه یوازې په نازي قبیلې بلکې بې له توپیره یې په ټولو کوچیانو برېد وکړ. [۲۹]

په قانون کې د ابهام (ګونګ) او د هغه په پلې کیدو کې د ناغېړي له امله د شخړو یو بل اړخ د کوچیانو د کډوالۍ زماني چارچوب دی:

دوي باید په څړځایونو کې خپل مالونه وپیایې او زموږ ځمکو ته هغه وخت راشي چې موږ حاصلات اخیستي وي. د دې په خلاف که دغه کوچیان په هغه وخت کې زموږ ځمکو ته راشي چې موږ د حاصلاتو د اخیستلو په حالت کې یو نو بیا شخړه حتمي پېښېږي. موږ به د هر ډول ځواک له کارولو څخه ګټه پورته کړو.[۷۰]

ځینې بزګران ادعا کوي چې د کوچیانو کډوالۍ د جنګ څخه د مخه وخت په پرتله ډېر غیر منظم شوي دي او په پایله کې یې د کلیو څړځایونو او حاصلاتو ته ډېر زیانونه رسولي دي:

زموږ د ولسوالۍ لپاره د کوچیانو وخت داسې دی چې کله به دوي په هر کال کې د اپریل په پای کې راغلل، لومړی به دوي معطل وو ترڅو چې هزاره بزګرانو په هره ولسوالۍ کې له غونډیو او غرونو څخه واښه راوشکول او هغه به یې د ژمي لپاره ذخیره کړل؛ له هغه وروسته بیا کوچیان راتلل او په دغو غرونو او غونډیو کې یې خپل څاروي ایله کول. پلان داسې و چې لومړی به دوي د بهسودو ولسوالۍ ته راغلل او هلته به د ۱۰ تر ۱۵ ورځو پورې پاتې شول او په غرونو کې به یې له پاتې ورښوګانو څخه استفاده کوله ترڅو چې بزګرانو به په ناهور ولسوالۍ کې خپل لومړني حاصلات واخیستل او واښه به یې د ژمي لپآره ذخیره کړل. له هغه وروسته به کوچیان د ناهور ولسوالۍ ته راغلل او هلته به تر ۱۰ تر ۱۵ ورځو پورې پاتې شول او په غرونو او غونډیو کې به یې پاتې ورښوګانې استعمالولې ترڅو چې په مالستان کې به بزګرانو خپل درمندونه واخیستل او واښه به یې وشکول بیا کوچیانو خپل مالونه هلته راوستل.[۷۱]

دغه اندونه (نظرونه) لږ تر لږه د ځینو چارواکو له خوا تائید شوي دي.

موږ د ولایت په کچه د ځمکو یو مشر لرو او د ولسوالۍ په کچه یو مدیر لرو چې د هر یوه له حقوقو سره اشنا و؛ ده د څړځایونو، ځنګلونو، کرنیزو ځمکو سرپرستي کوله او هیڅ چا د بل په حق کې مداخله نه کوله. [......] موږ د هر یوه ګروپ یا قبیلې لپاره یو سر خیل لرو [د کوچیانو د یوه ګروپ مشر]. سر خیل مسوؤلیت لري چې ګروپ د کډوالۍ په وخت کې رهبري کړي دوي د کوچیانو د ټولنې له خوا ټاکل کیږي او وروسته د ګوتو له لګولو او د کم تر کمه ۲۰۰ کورنیو د پیژند پاڼو له راوړلو وروسته موږ د هغه نوم د هغه ګروپ یا قبیلې د سرخېل په حیث ثبتوو او هغه ته یو کارت ورکوو چې یو مهر ورباندې لګېدلی وي. دی د اړیکه نېولو شخص ده یا د حکومت او کوچیانو ترمنځ وساوونکی دی او ګروپ یا قبیلې د کډوالۍ او هر څه لپاره مسوؤل شخص دی. موږ په هره قضیه کې له ده سره اړیکه نیسو یا دی د اړتیا په وخت کې له موږ سره یا زموږ له ولایتي ریاست سره اړیکه نیسي. په دې ډول دا څرګندیږي چې له یو ځای څخه بل ځای ته د کوچیانو د کډوالۍ لپاره څرګنده کړنلاري او مهال وېش شته. [۷۲]

۲۷ د الکوزي د قبیلې له مشر سره مرکه، د کوی دانا ساحه، جون ۲۰۱۷.

۲۸ د پایرای قبیلې د کلي له مشر سره مرکه، شمل، دیرای، خوست، اپریل ۲۰۱۷؛ د مرکه خېل د قبیلې له مشر سره مرکه دیرای خوست ولایت ۱۷ اپریل ۲۰۱۷؛ د تیرون د قبیلې له مشر سره مرکه، د مرکه خېل د قبیلې له مشر سره مرکه دیرای خوست ولایت ۲ اپریل ۲۰۱۷

۲۹ دولت زي د قبیلې د کوچي له مشر سره مرکه، دیرای، خوست، ۹ اپریل ۲۰۱۷؛ د نیازي د قبیلې د کوچي مشر سره مرکه، دیرای، خوست، ۸ اپریل ۲۰۱۷.

۷۰ د کلي له مشر سره مرکه، نورزي قبیله، ننګاب کلی، فراه ولایت، جون ۲۰۱۷.

۷۱ د هزاره مشر سره مرکه، بوخارا کلی، مالستان ولسوالي، ۱۴ مارچ ۲۰۱۷.

۷۲ ډاکټر د کوچیانو د خپلواک ریاست له مشاور ډاکټر عصمت الله خوشال سره مرکه، اکتوبر ۲۰۱۷.

هر څوک له دې سره موافق نه دي چې دغه مهال وېش به له شخړو څخه په مخ کې دور کې هم عملي کېده.[۷۳] حتی ځینې هزاره ګان وايي چې مهال وېش هېڅ وخت کې نه دی پلي شوی. [۷۴]

> له انقلاب څخه مخکې، یعقوب خان چې د کابل ولایت والي و، کوچیانو ته یې اجازه ورکړه چې د یوه مهال وېش له مخې د مرکزي افغانستان له ورښوګانو څخه (په عمده ډول د هزاره جاتو له سیمو څخه) ګټه پورته کوله. د دې مانا دا ده چې تر څو چې کلیوالو د کوچیانو د مسیر په اوږدو کې خپل حاصلات نه وي اخیستي، کوچیان باید هغه کلي ته رانه شي او خپل څاروي په پاتو وښو کې وڅروي. د دې مانا دا ده چې لومړی زموږ حق و چې وابنه وشکوو او هغه د خپلو څارویو لپاره د ژمي د توشې په ډول ذخیره کړو او وروسته بیا په کروندو کې پاتې وابنه د کوچیانو د څارویو لپاره وو. خو د خواشینۍ ځای دی، کوچیان له وخت څخه د مخه راتلل او زموږ له وښو څخه به یې استفاده کوله مخکې له دې چې موږ هغه ورېبو. کله چې موږ به په دوي غږ وکړ چې له وښو څخه په شاه شي ځکه موږ لا هغه تر اوسه نه دي رېبلي، دوي موږ ته غوږ نه نیو او د دې پر ځای به یې موږ ته خپلې وسلې ښودلې.[۷۵]

البته کله چې مهال وېشونه پلي شوي دي له یوه خایه تر بله خایه یې توپیر درلود.

۷۳ د کوچیانو د کمیسیون له غړي سره مرکه، کابل،۱ جون ، ۲۰۱۷؛ شاه مامود میاخېل سره مرکه، یو ایس اي پي، کابل ۲۰ سپتمبر ۲۰۱۷.

۷۴ د کلي له مشر سره مرکه، پنجاب ولسوالي ، بامیان، جولای ۲۰۱۷.

۷۵ د کلي له مشر سره مرکه، بخارا کلی، مالستان ولسوالي، مارچ ۲۰۱۷.

# ۲. د شخړو ډولونه: د ځمکو غصب او ناقانونه نیول

## ۲.۱ څوک فساد جوړوي؟

که نمونې ته په تولیز ډول وګورو، د کوچي- بزګر د شخړو یو ډېر عام لامل د ځمکو غصبول (د سوداګریزو موخو لپاره د دولتي ځمکو نیول) او د ځمکو نیول دي (د شخصي ګټې لپاره د ځمکو نیول). د ده سبز، خاک جبار، ازرې او خوست په قضیو کې د بزګرانو کسیې د جنګ څخه مخکې وخت ته اشاره کوي، کله چې کوچیانو خپلې رمې په غرونو کې عامه څړځایونو ته بیولې او له بزګرانو سره یې سروکار نه درلود. له ۲۰۰۱ ز څخه وروسته حالات بدل شول. په ده سبز کې د یوې ځایي ټولنې مشر وویل:

> پخوا به کوچیان دلته راتلل او د کم وخت لپاره پاتې کېدل، خپل څاروي به یې دلته پېول او بیا به شمالي ولایتونو ته تلل، خو اوس کوچیان زموږ ځمکې او ملکیتونه لاندې کوي. دوي زموږ په ځمکو کورونه ابادوي ځکه چې دغه ځمکې کابل ته نژدې دي.[۷۶]

په خاک جبار کې بزګرانو هم دغه ډول کیسې کړې دي:

> پخوا کوچیانو یوازې په دغو ځمکو خېمې درولې او څاروي به یې د څرلو لپاره راوستل خو اوس دوي دلته راځي او غواړي چې زموږ ځمکې ونیسي او هلته کورونه اباد کړي؛ نو ځکه شخړې پېښېږي.[۷۷]

له بلې خوا کوچیان ادعا کوي هغه ځمکې چېرې چې دوي غوښتل میشت شي، په بزګرانو پورې اړه نه لري:

> دغه زموږ د نیکونو ځمکې دي: دوي په دغو ځمکو دعوه کړې ده. موږ به دوي ته اجازه ور نه کړو چې زموږ ځمکې راڅخه واخلي. [....] دوي وویل چې کوچیان باید په غرونو کې واوسي، نه په ښارونو کې. دوي زموږ کورونه، خېمې او هر څه ورانوي.[۷۸]

په حقیقت کې څه چې پېښېږي دا دی چې بزګران او کوچیان دواړه د پخوانیو څړځایونو په ځینو برخو ولکه لري او په هغو د کنټرول لپاره سیالي کوي:

> له تاجکانو سره زموږ شخړه ۲ کاله پخوا پېښه شوه. تاجکان نه غواړي چې موږ د دلته واوسو. دوي موږ ته وایي چې دغه زموږ سیمه نه ده، حکومت موږ ته په باری کو کې ځمکه راکړه، نو موږ باید هلته واوسو. خو موږ د دوي پروا نه لرو ځکه دا زموږ د څړځایونو ساحه ده. [....] اوس د ځمکو بیه ډېره لوړه شوې ده نو دوي نورې ټولې ساحې ونیولې او هلته یې ښار ګوټي جوړ کړي. اوس نور ځایونه ډک شوی او دوي غواړي چې زموږ ځمکې هم ونیسي. له دې امله جګړه له دواړو خواوو پیل شوه.[۷۹]

د کوچیانو ځینې ګروپونه داسې برېښي چې غواړي په خپلو څړځایونو ولکه ټینګه کړي او هلته کورونه اباد کړي. یوه کس مرکه کوونکی دا خبره ومنله:

۷۶ د کلي له مشر سره مرکه، ده سبز، کابل، جنوري ۲۰۱۷.

۷۷ د چکري د کلي له مشر سره مرکه، خاک جبار، کابل، فبروري ۲۰۱۷.

۷۸ د کوچي له مشر سره مرکه، تره خېل قبیله، ده سبز، کابل، جنوري ۲۰۱۷.

۷۹ له کوچي مشر سره مرکه، ټغر قبیله ، ده سبز، کابل ، جنوري ۲۰۱۷.

> موږ کوچیان په ډېرو ساحو کې له ستونزو سره مخامخ یو. لومړی چې موږ د کوچي اباد ساحه نیوله، موږ د بوت خاک له خلکو سره برید وکړ او دغه زموږ څرځایونه وو او اوس موږ هلته ابادي وکړه. موږ د چینار کلي له خلکو سره او د خاک جبار له خلکو سره په چاربازګی کې جګړه وکړه. دغه راز، موږ د ګوسفند درې له خلکو سره ستونزې لرو، ځکه دغه زموږ څرځایونه دي او زموږ نیکونه به دلته راتلل. په ۲۰۰۷ز کې کله چې موږ په دې ساحه کې کورونه ابادول، د بوت خاک له خلکو سره زموږ جګړه پیل شوه. موږ غوښتل چې هغه ساحې هم لاندې کړو. په ۲۰۱۳ز کې موږ د ګوسفند درې او ملنګې له خلکو سره شخړه وکړه، او په ۲۰۱۵ز کې په چاربازګی کې د خاک جبار له خلکو سره په شخړه کې ښکېل شوو. دغه زموږ د نیکونو سیمې وې. په ځینو ځایونو کې زموږ شخړې ختمې شوې، په ځینو کې اوس هم روانې دي. [.....] دغه زموږ د نیکونو دښتې دي.[۸۰]

دواړه خواوې یو بل په دې تورن وي چې د افغانستان د مافیا او یا د کومې یاغي ډلې له خوا مرسته ورسره کیږي.[۸۱]

> زموږ جګړه له کوچیانو سره هغه وخت ونښته چې دوی پریکړه وکړه چې زموږ سیمې او کروندې ونیسي. د دوی شاته مافیا ولاړه ده لکه څنګه چې دوی بوت خاک لاندې کړ دوی غوښتل چې ده سبز هم ونیسي خو موږ پرینښودل ځکه زموږ جګړه ونښته.[۸۲]

> د تره خېل قبیله موږ هڅوي چې له مخامخ ټولنې سره جګړه وکړو. خو د مخامخ ټولنې شاته زورواکان ، مافیا او قومندانان ولاړ دي.[۸۳]

> [ خاصو خلکو] غوښتل چې دغه ساحه وپلوري لکه د پلچرخي د ساحې په شان. بیا زموږ جګړه له دوی سره پیل شوه او موږ دوی ودرول. له دغو شخړو څخه هیڅ ونه شول، موږ یوازې خپل خلک وسله وال کړل.[۸۴]

د خوست د دېرای په سیمه کې په ۲۰۰۳ ز کال کې کوچیانو او ځایي خلکو سره جګړه وکړه. بزګرانو کوچیان پرې نه ښودل چې هلته مېشت شي:

> دغو کوچیانو د ظاهر شاه او داود خان په وختونو کې په دیرای کې لېږ ځمکې واخیستې، بیا دوی له څاروېو سره راتلل او په څرځایونو ته به یې څاروي راوستل او بیا به پاکستان ته تلل. د طالبانو په وخت کې دوی پیسې پیدا کړې او هلته یې کورونه اباد کړل. دوی نور نیازیان هم له ننګرهار، پکتیا او نورو ځایونو څخه راوستل. دوی زموږ په ځمکو برید وکړ او زموږ کروندو ته یې څاروې راوستل. موږ ورته وویل چې داسې مه کوئ خو ویې نه منله. دوی زموږ په ساحه کې کورونه جوړول پیل کړل. موږ دوی منع کړل. موږ دوی ته وویل چې کورونه مه جوړوئ او په ځمکو کښت مه کوئ، بیا کوچیانو زموږ یو تن په چاقو وواهه او سخت یې ژوبل کړ. بیا جګړه پیل شوه او دوی څو تنه ووژل. کوچیان له سبري قبیلې سره هم جګړه کړې ده چې دواړه خواوې ۲۰ کسه تلفات لري.[۸۵]

> کوچیانو پخوا په خپلو ساحو کې کار کاوه، خو اوس د ۱۰۰-۵۰ هکتاره د نورې ځمکې دعوه کوي او له رود څخه را واوښتل د سړک دې خوا ته راغلل. د پیرل د کورنۍ ډګروال دوی منع کړل خو کوچیان وایي دغه ساحه او څرځایونه د دوی دي او اوس غواړي هلته کروندې وکړي. خو د خوستي ډګروال کورنۍ دوی ته اجازه ور نه کړه او په دې ډول جګړه پیل شوه. [۸۲]

---

۸۰ کوچي مشر سره مرکه، کوچي اباد ، بدخاک، کابل ، مارچ ۲۰۱۷.

۸۱ د کلي له مشر سره مرکه، چکري، خاک جباز ، کابل، فبروري ۲۰۱۷ ؛ د کلي له مشر سره مرکه، د ملنګ کلی، فبروري ۲۰۱۷.

۸۲ د کلي له مشر سره مرکه، د خواجه چشت ساحه، ده سبز ، کابل، جنوري ۲۰۱۷.

۸۳ له کوچي مشره سره مرکه، بابرکر خېل قبیله، ده سبز ، کابل، جنوري ۲۰۱۷.

۸۴ دکوچي له مشر سره مرکه، باغي ټولنه، خاک جبار ، کابل، مارچ ۲۰۱۷.

۸۵ د کلي له مشر سره مرکه، تیرون قبیله ، خوست ، دیرای ، اپریل ۲۰۱۷.

۸۲ د کلي له مشر سره مرکه، درای قبیله ، شمل ، دیرای ، خوست، اپریل ۲۰۱۷

نیازي کوچیان اړ وو چې خپلې ځمکې او کورونه پرېږدي، تر څو چې ځینې په **۲۰۱۵** ز کال کې بېرته راوګرځېدل. دوي پریکړه وکړه چې ځمکې او کورونه د ښې بیې په بدل کې ګاونډي منګل قبیلې ته پرېږدي. [۸۷]

کوچیان او ځایي خلک یو بل په فساد تورن وي خو دواړه خواوې یو کار کوي: د ځړځایونو ځینې برخې یې نیولې دي بیا یې په هغو کې کرونديې یا ښارګوټي اباد کړي. څرنګه چې د حکومت پلانونه چې ځمکې د ابادي لپاره ورکړي ډېر کم دي، غریبې ټولنې ناهیلي دي نو ځکه اړ دي ناقانونه عمل وکړي یا د ځمکو له غاصبینو سره همکار شي. په دې ترڅ کې دوي له نورو ټولنو سره هم په شخړو کې ښکېل شي، څوک چې د ځمکو په غصب کې شریک نه دي، خو وینې چې د دوي ځړځایونه له لاسه وځي.

یوه کوچي ومنله چې د کوچیانو زورواکي له نورو زورواکانو سره د ځمکو په غصب کې نقش لري. ده ټینګار وکړ چې کوچیان پخپله د کوچي زورواکانو له خوا تر فشار لاندې دي، ځکه دوي ځړځایونه له لاسه ورکوي. [۸۸]

## ۲.۲ د ځمکو لاندې کول یا غصبول

کله چې ټینګار وشي، دواړه بزګران او کوچیان مني چې دوي له بهرنیو حزبونو، په کابل کې له سیاستوالو، قومي او ځایي شوراګانو څخه مرسته غوښتې او تر لاسه کړې ده. [۸۹] د کوچیانو یوې سرچینې ومنله چې له طالبانو څخه یې سلاوې تر لاسه کړې:

> له طالبانو څخه مننه کوو. دوي وسله وال کوچیان دي. هر چا له کوچیانو سره بده وضعه کړې ده او اوس کوچیان کولای شي له خپل ځان څخه دفاع وکړي.[......] طالبانو موږ ته سلاوې راکړې او موږ نوره مرسته هم له دوي څخه غواړو. که حکومت زموږ خبره نه اوري ، موږ بله چاره نه لرو ، له طالبانو څخه به مرسته غواړو. [۹۰]

د دیرای (خوست) په قضیه کې هم، دغه تورونه ډېر وو چې انفرادي اشخاص مخالفو ټولنو ته مرستې رسوي.[۹۱] د بزګرانو د یوه مشر په وینا، سراج الدین حقاني بزګرانو ته لیک استولی چې یوازې نیازي کوچیان پرېږدي. [۹۲]

دغه حقیقت چې په جګړه کې ښکېله خوا له بهر څخه مرسته تر لاسه کوي، د دې مانا نه لري چې بهرنۍ خوا په اتوماتیک ډول د شخړې لامل دی. په خاص ډول په هغو قضیو کې چې د لویو ښارونو په شاوخوا کې وي، تورونه داسې دي چې د ځمکو غاصبین له ټولنو څخه د خپلو "عسکرو " په څېر استفاده کوي چې د خپلو تجارتي ګټو لپاره ځمکې لاندې کړي. د ځمکو د غاصبینو نقش نورې څېړنې ته اړتیا لري. د دې لپاره چې نه یوازې د دوي نقش په شخړو کې وارزوو، بلکې وښودل شي چې دوي د کوچي ټولنو ټولنیز جوړښت ته بل شکل ورکوي. (د اساسي لاملونو برخه وګورئ).

۸۷ دکلي له مشر سره مرکه، نیازي قبیله ، دیرای ، خوست، اپریل ۲۰۱۷؛ د کوچي له مشر سره مرکه، نیازي قبیله، دیرای ، خوست، اپریل ۲۰۱۷.

۸۸ له حاجي خان وزیر سره مرکه، د خماري خېل شورا ، ده سبز او قره باغ، پوزی خروټي باریک اب، اکتوبر ۲۰۱۷.

۸۹ د کلي له مشر سره مرکه، ده سبز، کابل ، جنوري ۲۰۱۷؛ د کلي له مشر سره مرکه، خواجه چشت، ده سبز، کابل ، جنوري ۲۰۱۷؛ د کلي له مشر سره مرکه، پای منار کلی، ده سبز، کابل، جنوري ۲۰۱۷؛ له کوچي مشر سره مرکه، تره خېل قبیله، ده سبز، کابل، جنوري ۲۰۱۷؛ له کوچي مشر سره مرکه، تغر قبیله، ده سبز، کابل، جنوري ۲۰۱۷؛ د کلي له مشر سره مرکه، باغګي ټولنه، خاک جباز، کابل ، مارچ ۲۰۱۷؛ له کوچي مشر سره مرکه، اکبر خېل قبیله، مارچ ۲۰۱۷.

۹۰ له کوچي مشر سره مرکه، اکبر خېل قبیله، مارچ ، ۲۰۱۷.

۹۱ دمرکه خېل له قبیلې له مشر سره مرکه، دیرای، خوست، اپریل ، ۲۰۱۷.

۹۲ دکلي له مشر سره مرکه، د تیرون قبیله، خوست، دیرای، اپریل ، ۲۰۱۷.

## ۲.۳ ځايي شوي کوچيان د هغو کوچيانو په وړاندې چې غواړي ځايي شي

په ازره (لوګر) کې، د سرخ او دښته د کوچيانو او پخوانيو کوچيانو ترمنځ چې اوس د دوي په پخوانيو څرځايونو کې مېشت شوي دي د شخړو ځای دی:

> زموږ شخړه له کوچيانو سره درې کاله د مخه د پاد خواب رشانه ساحه کې پيل شوه او د کوچيانو مشر غوښتل چې دغه ساحه ونيسي او هلته کورونه اباد کړي. موږ دوي ته اجازه ور نه کړه. پخوا به دوي دلته مالونه د څرلو لپاره راوستل او بيا به شمالي ولايتونو ته تلل. خو درې کاله پخوا موږ وليدل چې دوي دلته کورونه ابادوي. نو بيا زموږ او دوي ترمنځ جګړه پيل شوه. دوي د نعيم خيل، بابر، او سلطان خېلو له قبيلو څخه دي. دوي له مختلفو سيمو څخه راځي او غواړي زموږ کرنيزې ځمکې ونيسي. موږ د دغو ټولو سيمو قانوني سندونه لرو. دغه شخړه په **۲۰۱۳**ز کال کې پيل شوه او اوس هم لا دوام لري، ختمه شوې لا نه ده.[۹۳]

څلور کوچي ټولنې په سيمه کې مېشته شولې او پخپلو کې يې پريکړه وکړه چې څرځايونه به څنګه سره شريک کوي او سيمه به په کليو او کرنيزو ځمکو بدلوي:

> دغه ځمکه له ۲۰۰۰ هکتاره څخه زياته ده او ټول کلي او قبيلې په هغو کې برخه لري لکه عيسی خېل، عبدالرحيم زي، افضل خېل او ستانکزي. دغه ټولې قبيلې په دې ځمکه کې حق لري. څرنګه چې دغه د کوچيانو څرځای دی، زموږ څرځای هم دی، ځکه پخوا موږ هم کوچيان وواو مالونه به مو دلته راوستل خو اوس موږ کوچيانی ژوند پرېښی دی.[۹۴]

کله چې نورو کوچي ټولنو لکه بابړو، سلطان خېلو او سلام خېلو هڅې وکړې چې په دې سيمه کې مېشت شي، ځايي شويو کوچي ټولنو پرېکړه وکړه چې هغوي له دې ځايه وباسي.[۹۵]

> موږ کوچيانو ته اجازه نه ورکوو که دوي وغواړي چې زموږ په ځمکو کې مالونه وپيايي يا هلته کورونه جوړ کړي ځکه موږ غواړو دغه ځمکه د کښت لپاره اماده کړو. موږ غواړو په دې دښتو کې د اوبو پمپونه کښېږدو او فصلونه وکرو ځکه زموږ شمېر ورځ له بلې ډېرېږي. دغه راز موږ غواړو په دې ساحو کې کورونه اباد کړو. موږ نه غواړو چې نور کوچيانو ته اجازه ورکړو. ضروري نه ده چې دغه ساحې به تل د کوچيانو لپاره څرځايونه وي.[......] موږ د بابړ کوچيانو سره په شخړه کې يو. دغه کوچيان دلته راغلل او زموږ په ځمکو يې خېمې ودرولې او زموږ ځمکې يې ونيولې او ادعا يې وکړه چې دغه ځمکې په دوي پورې اړه لري. سلام خېل کوچيان هم د پکتيا له رود کلي څخه راغلل. دوي زموږ ځمکې ونيولې او اوس وايي چې زموږ نيکونو په دوي باندې خرڅې کړې. دغه شخړه دوه نيم کاله مخکې پيل شوه.[......] زموږ ځمکه ډېره ښه ده، ښه شمال او مناسب بادونه لري او ډېره هواره ساحه ده. د دوي د څارويو لپاره ډېره ښه ساحه ده ځکه ډېر واښه لري. دغه ساحه ښار ته هم نژدې ده.[۹۶]

د دې په خلاف کوچيانو شکايت وکړ چې نورې ټولنې ځايي شوې او له دې امله دوي دوديزو څرځايونو ته اوس لاسرسی نه لري. د څلورو ټولنو ترمنځ پريکړه چې په څرځايونو کې مېشت شي له نورو کوچي ټولنو سره پرې خبرې نه وې شوې. د **۲۰۱۱** ز کال او **۲۰۱۴** ز کلونو ترمنځ شخړې ورو ورو زياتې شوې. [۹۷] کوچيانو همدا شکايت وکړ چې دوي له منځه ايستل شوي دي:

> موږ د خليل اباد په ساحه کې چې د لوګر ولايت د پلي علم کلنګار ته نژدې ده په شخړه کې يو. موږ د ستانکزي له قبيلې سره مخالفت لرو او دوي په دې ساحه کې زموږ څرځايونه نيولي دي. دغه شخړه زموږ او دوي ترمنځ ۳ کاله مخکې پيل شوه او لا اوس هم نه ده ختمه. دوي غواړي چې دلته ښارګوټي جوړ کړي او زموږ څرځايونه ونيسي خو موږ به دوي ته اجازه ور نه کړو.[۹۸]

---

۹۳ د کلي له مشر سره مرکه، د ايلياس خان ساحه ، لوګر ولايت ، ډسمبر ۲۰۱۲.

۹۴ د کلي له مشر سره مرکه، عيسا خېل ټولنه، پولې قندهارې، ډسمبر ، ۲۰۱۲.

۹۵ د سلطان خېل د قبيلې له مشر سره مرکه، لوګر ولايت، نوومبر ، ۲۰۱۲.

۹۶ دکلي له مشر سره مرکه، عبد الرحيم زی ټولنه، اوبازک کلی ، ډسمبر ، ۲۰۱۲.

۹۷ دکوچي له مشر سره مرکه، بابړ قبيله، نوومبر ۲۰۱۲.

۹۸ د نعيم خېل ټولنې له مشر سره مرکه، خليل اباد، لوګر ، نوومبر ، ۲۰۱۲.

د مېشت شويو ټولنو او هغو ټولنو ترمنځ تضاد چې غوښتل يې ځايي شي، په دې ساحه کې شخړې راوپارولې چې د بزګرانو په کارونو يې هم اثر وغورځاوو:

> هغه څړځايونه او ځمکې چې موږ يې له کوچيانو سره پر سر اختلاف لرو، په وروستيو کلونو کې ډېرې بدلې شوې دي. د دې مانا دا ده چې د پادخواب شاني په دښته کې موږ ډېر شيان وکرل او اوس هغه يوه کرنيزه ځمکه ده. موږ هلته غنم او نور فصلونه وکرل خو په تېرو درېيو کلونو کې هيڅ شی نه دي شوي ځکه شخړو زور واخيست. په دغه ساحه کې کورونه اباد شول او زموږ کرنيزې ځمکې په کورونو بدلې شوې. [99]

لکه د شخړو په نورو قضيو کې چې تر اوسه مو تر کتنې لاندې ونيولې، حتی په ازره کې سيالو ټولنو له زورواکانو، سياستوالو او حکومتي چارواکو څخه د مرستې غوښتنه کړې چې تر يوه حده په کې بريالي شوي هم دي لکه څنګه چې دوي پخپله منلې ده. په معمول ډول ادعا کيږي چې سياست وال او زورواکان ټولنې د ځمکو نيولو ته هڅوي، ښايي د دې لپاره چې اقتصادي ګټې لاس ته راوړي.[100] د معمول په ډول ادعاګانې چې دواړه خواوې له ياغي ګروپونو څخه مرستې تر لاسه کوي زياتيږي.[101] داسې معلوميږي چې د دغو ادعاګانو تر شا يو څه شته: لږ تر لږه يوه مشر بزګر ومنله چې له حزب اسلامي او همدارنګه له دوو کوچي زورواکانو څخه يې مرسته ترلاسه کړې.[102]

لکه څنګه چې د کوچيانو په خپل منځي شخړو کې چې مخکې مو پرې خبرې وکړې او څړځايونو ته د لاسرسي محدودولو ته وقف شوې وې، د کوچيانو او او پښتانيو کوچيانو ترمنځ شخړې ښيي چې د سرچينو کمښت د شخړو يو لامل ګرځي، داسې يو لامل چې د مخالفتونو نور اساسي لاملونه تر نفوذ لاندې راولي.

---

۹۹ د کلي له مشر سره مرکه، الياس خان ساحه، لوګر ، ډسمبر ، ۲۰۱۲.

۱۰۰ د سلطان خېل د قبيلې له مشر سره مرکه، لوګر ،نوومبر ، ۲۰۱۲. د کلي له مشر سره مرکه، عبد الرحيم زی ټولنه او بازک کلی ډسمبر ، ۲۰۱۲؛ د نعيم خېل د ټولنې له مشر سره مرکه، خليل اباد ، لوګر ، نوومبر ، ۲۰۱۲.

۱۰۱ د کلي له مشر سره مرکه، الياس خان ساحه، لوګر، ډسمبر ، ۲۰۱۲.

۱۰۲ د کوچي له مشر سره مرکه، د بابړ قبيله، نوومبر، ۲۰۱۲.

# ۷. د شخړو اساسي لاملونه

د کوچیانو او ځایي خلکو ترمنځ شخړې تر یوه حده مخکې تر بحث لاندې ونیول شوې. دغه شخړې له دې امله پېښېږي چې د ملکیت او استعمال حقونه په کمزورې ډول اعمال شوي یا په بشپړ ډول د چارواکو له خوا هېر شوي. ویلې دغه شخړې د دې پایله ګڼي چې د څړځایونو موقف "ناڅرګند" دی.[۱۰۳] په دې ډول کوچیان او بزګران ځینې وختونه څړځایونه "د خپل ځان" ګڼي (چې د دولت ملکیت یې نه شمېري) او دوی هلته په ډېرو ځایونو کې په ناقانونه ډول مېشت شوي دي او شخړې یې پرې اېښې دي. په عموم ډول په یوه منازعه کې دواړه خواوې استدلال کوي چې دوی په قانوني ډول د ځمکو څښتنان دي. همدارنګه بله ستونزه دا ده چې حکومتي چارواکي په ناقانونه ډول ځمکې خرڅوي او د پام وړ خبره دا ده چې ځینې دغه اختلافونه د کلونو لپاره دوام پیدا کوي بې له دې چې د ځمکې قانوني څښتن وپېژندل شي.[۱۰۴] همدارنګه ښکاره ده چې په هغو سیمو کې چې تاوتریخوالی زیات وي، ماینونه خښ شوي وي هلته د کوچیانو لاسرسی محدود وي او په دې ډول دوی اړېږي په یو محدود شمېر خوندي څړځایونو ته پام واړوي.[۱۰۵]

د زیاتېدونکي نفوس فشار د کوچي- ځایي شخړو یو ښکاره لامل دی، چې مرکه ورکوونکو او چارواکو هم تائید کړی دی:[۱۰۶]

> زموږ د ټولنې نفوس کال په کال ډېرېږي. په هغو ځایونو کې، چېرې چې به کوچیانو خپل څاروي بوتلل، اوس هلته زموږ ټولنې کورونه اباد کړي یا یې کښت کرلی دی. [۱۰۷]

> د دې حقیقت لپاره چې وېې پخوا شخړې نه وې شوې مختلف لاملونه شته. لومړی لامل یې دا دی چې په نفوسو کې زیاتوالی راغلی او هغه دښتې چې کوچیانو به خپل مالونه هلته پوول اوس په کورونو او کروندو ډکې شوې دي.[۱۰۸]

اوس مهال کرنیزه ځمکه د ۲،۳ میلیون هکتاره په شاوخوا کې اټکل شوې. له شخړو څخه پخوا دغه اندازه ۳،۴ میلیون اټکل شوې وه (او په دې موده کې نفوس دوه برابره شوی). [۱۰۹] د څارویو په شمېر کې کمښت هم په افغانستان کې (په افغانستان کې کوچیان او بزګران پورته برخه وګورئ) باید په څړځایونو فشار کم کړي. دا حقیقت څرګندوي، که شخړې په یو ډول ودرېږي، د کوچیانو د کډوالۍ اوسنۍ کچه کېدای شي په اسانه سره تنظیم شي.

د څړځایونو پر سر د شخړو بل ښکاره لامل دا دی چې ښاري پرمختګونه او د ښارونو په شاوخوا کې مېشتېدنې پراختیا پیدا کړې. دغه تمایل، په ځینو قضیو کې د څړځایونو بیه چې پخوا کوچیانو استعمالوله پورته بېولې. دې حالت ځایي کلیوال، له پاکستان څخه راستنېدونکي او زورواکان هڅولي چې په څړځایونو ولکه ټینګه کړي د دې لپاره چې هلته ابادي وکړي یا یې ببرته خرڅه کړي.[۱۱۰] چارواکي هم دې ته پام نه کوي چې ښاري پراختیا د څړځایونو یا کرنیزو ځمکو په ځای داسې ساحو ته سوق کړي چې وچې وي.[۱۱۱]

په تېرو **۱۵** کلونو کې ډېر بدلونونه راغلل. د بیلګې په توګه، په تېر وخت کې زموږ نفوس کم و او په نورو ولایتونو کې شخړې هم نه وې، د کوچیانو لپاره خلاصې ساحې وې چې خپل مالونه هلته بوځي، خو اوس نفوس ډېر شوی او ډېر خلک له نورو ولایتونو څخه کابل ته راغلي ځکه چې هلته شخړې دي. اوس هغه څړځایونه په ښارګوټو او کورونو بدل شوي او کوچیان هم اوس غواړي چې ځایونه پیدا کړي او ژوند وکړي. دوی اوس د ځمکو په ارزښت پوهېږي. دغه لامل دی چې د کوچیانو او بزګرانو او نورو ځایي خلکو ترمنځ اړیکې په هر ځای کې خرابې شوې. [....] پخوا کوچیان خپلو مالونو ته یې پام وو، اوس کوچیان دنیا ته ګوري او غواړي له کوچیاني ژوند څخه ښاري ژوند ته راوګرځي. دوی غواړي کورونه، ځمکې او نور سوداګرۍ ولري. دوی له خپل پخواني ژوند څخه ستومانه دي. هغه ژوند دوی ته ډېر ګران (سخت) و.[۱۱۲]

---

۱۰۳ لیز الدن ویلي، "په څړځایونو شخړې"

۱۰۴ د عبد الرحیم زی د ټولنې له مشر سره مرکه، اوبازک کلی، ۲۰ ډسمبر، ۲۰۱۲.

۱۰۵ د کوچیانو د خپلواک ریاست له سلاکار ډاکټر عصمت الله خوشال سره مرکه، اکتوبر، ۲۰۱۷.

۱۰۶ د کوچیانو د خپلواک ریاست له سلاکار ډاکټر عصمت الله خوشال سره مرکه، اکتوبر، ۲۰۱۷.

۱۰۷ د کلي له مشر سره مرکه، نورزی قبیله، ننګاب کلی، فراه، جون، ۲۰۱۷.

۱۰۸ د بلوچو د کوچیانو له مشر سره مرکه، فراه، جون، ۲۰۱۷؛

۱۰۹ له انجینیر میل خېل سره مرکه، د اوبو متخصص، د کلیو د پراختیا وزارت، کابل، ۹ اکتوبر، ۲۰۱۷.

۱۱۰ د بلوچ د کوچیانو له مشر سره مرکه، فراه، جون، ۲۰۱۷؛ د کوچیانو د خپلواک ریاست له مشاور ډاکټر عصمت الله خوشال سره مرکه، اکتوبر، ۲۰۱۷.

۱۱۱ له حاجي خان وزیر سره مرکه، د خوماري خېل د شورا مشر، ده سبز او قراه باغ، پوزی خروټي، باری کاب، اکتوبر، ۲۰۱۷.

۱۱۲ د کلي له مشر سره مرکه، ده سبز، کابل، جنوري، ۲۰۱۷.

پورتنۍ خبرې څرګندوي چې لویو ښارونو ته څېرمه ساحې تر ځومره لوی ګواښ لاندې دي، لکه ده سبز. د خاک جبار (کابل ولایت) هم دغه ډول موقف لري:

> په تېرو ۱۵ کلونو کې زمونږ په کلي کې ډېر بدلونونه راغلل. ابادي بیا وشوې، زمونږ نفوس زیات شو او د کابل ښار ته سړک زمونږ تر کلي پورې جوړ شو. دغو بدلونونو زمونږ په اړیکو له کوچیانو سره هم اغیز غورځولی. پخوا مونږ د چار باڼکي له دښتې څخه ګټه اخیستنه نه کوله، خو اوس مونږ هغې ته اړ یو. دغه زمونږ د ټولنې او کوچیانو تر منځ د شخړو لامل دی.[.....] پخوا مونږ په دې جنجالي ساحو کې کښت نه کاوه، خو اوس مونږ په دښتو کې للمه کرو.[۱۱۳]

دغه راز، په ازره کې هم د ځمکې د بیې له لوړېدو سره د شخړو احتمال زیات شو.[۱۱۴]

> زمونږ جګړه په خلیل اباد کې ونښته ځکه د ستانکزي قبیلې په خلیل اباد کې زمونږ څړځایونه ونیول. دغه شخړه له هغه پخوا نه وه پیل شوې ځکه په هغه وخت کې د ځمکو ارزښت ټیټ و. خو اوس چې ځمکه قیمته شوه، دغو زورواکانو ټولې ساحې لاندې کړې او غوښتل یې زمونږ څړځایونه هم ونیسي. بل لامل د نفوسو زیاتوالی دی، ځکه ډېر شمېر خلک له پاکستان څخه بېرته راستانه شول. [د یوه په ګډون] چې د پارلمان غړی دی او [یو بل] هرې کورنۍ ته درې بسوې ځمکه او له هغوی څخه پیسې اخلي.[۱۱۵]

دا ډېره قیمتي ځمکه ده او د خوست خلک غواړي مونږ وبېروي او ځمکه له مونږ څخه واخلي. د یوه هکتار ځمکې بیه ۱۰۰۰۰۰ ډالر دی.[۱۱۶]

د ځمکو لوړې بیې او د کورونو لپاره تقاضا د افغانستان د اقتصادي ودې پایله ده چې له ۲۰۰۲ څخه تر ۲۰۱۴ زکال پورې یې درلوده. په دې وخت کې د سوداګرې لپاره فرصتونه پیدا شول. خو د متشبثینو یوې مخصوصې کټګورې (د ځمکوغاصبین) له دې فرصتونو څخه ډېره ګټه وکړه.[۱۱۷] ځمکو ته تقاضا حقیقي ده، او د ځمکو د غاصبینو له خوا په مصنوعي ډول نه ده جوړه شوې. دغه تقاضا باید په یوه ډول پوره شي. که د ښاري پراختیا لپاره ځایونه برابر نه شي، د نورو لاملونو په ګډون دغه لامل به راتلونکی پرمختګ له خنډ سره مخامخ کړي.

دغه ډول شخړه د مهمو سرچینو پر سر شخړه ده چې د مخ پر زیاتېدونکي نفوس تر منځ باید تقسیم شي. د دغې شخړې څخه مخنیوی کول ستونزمن دي، حتی که ټولنې پریکړې هم ونیسي چې څنګه په خپل منځ کې له څړځایونو څخه استفاده وکړي. د کوچیانو او ځایي خلکو ترمنځ دودیزې شخړې د نامعلومو سرحدونو پر سر پخپل ځای پاتې دي، خو اوس ډېرې جدي نه دي. د ځمکو غاصبین پراخې سرچینې لري، ډېر سړي او وسلې لري او غواړي چې شخړې له یوه ځایه بل ځای ته ولېږدوي.

محدودو څړځایونو ته د لاسرسي په درلودلو سره کوچیان اوس یا د ښارونو لورې ته مخ اړوي یا هره ټوټه ځمکه چې پیدا کوي په هغې کار کوي. څرنګه چې کوچیاني ژوند اوس ستونزمن کېږي. د کوچیانو ځینې خلک په اسانې سره د ټاکنو امکان نه لري، خو په لویو ښارونو کې د ارزانه کارونو موندل ښایي یو امکان وي. هغه کسان چې دغه کارونه کولای شي، هڅه کوي په داسې برخلیک اخته نه شي او د ځمکې د نیولو په لټه کې وي. د ځمکو د نیولو په وخت کې دوی له مقاومت سره مخامخ کیږي:

> په ځینو سیمو کې ستونزې وي. په ځینو کې نه وي. ځینې خلک فکر کوي "کوچیان د افغانستان دي، دوي پرېږدئ." نور بیا فکر کوي "دوي حق نه لري چې دلته ژوند وکړي. دوي باید په غرونو کې ژوند وکړي."[۱۱۸]

ډېر کم شمېر کوچیان کولای شي ځمکې په بیه واخلي، نو یوه ټاکنه دا پاتې کیږي چې څړ ځایونه ونیسي چېرې چې د دوي وس وي. کوچیان او بزګران دواړه دغه پېښې تائیدوي. د بیلګې په توګه:

۱۱۳ د کلي له مشر سره مرکه، ملنګ کلي، فبروري ۲۰۱۷.
۱۱۴ د کلي له مشر سره مرکه، د پرسای قبیله، شمل، دیرای، خوست، اپریل، ۲۰۱۷.
۱۱۵ له مشر سره مرکه، نعیم خېل قبیله، خلیل اباد، لوګر، نوومبر، ۲۰۱۲.
۱۱۶ د کوچیانو له مشر سره مرکه، نیازي قبیله، دیرای، خوست، اپریل، ۲۰۱۷.
۱۱۷ د کلي له مشر سره مرکه، کول اقا خېل، امام صاحب، کندز، اپریل، ۲۰۱۷.
۱۱۸ د کوچیانو له مشر سره مرکه، طره خېل قبیله، ده سبز، کابل، ۱۳ جنوري، ۲۰۱۷.

> پخوا کوچیانو کوچیانې ژوند درلود او له یوه ځای څخه بل ځای ته تلل. دغه ژوند اوس دوي پرې ایښی. دوي دافغانستان ټولې ځمکې نیولې. [۱۱۹]

> پخوا موږ شمالي ولایتونو ته تللو، خو اوس موږ هغوي له دغو ساحو او هغو څړځایونو څخه منع کړي یو چېرې چې موږ کورونه اباد کړي دي. دغه خلک موږ ته اجازه نه راکوي، وروسته دوي بلدوزرونه راوړل او زموږ کورونه یې ویجاړ کړل. په یوه کور کې دوه کوچنیان هم ووژل شول. د دغو تاجکانو او زموږ د تره خېلو ترمنځ ډېرې جګړې وشوې.[۱۲۰]

د څړځایونو پر سر د سیالۍ په پایله کې، هغه ټولنې هم د کوچیانو په وړاندې ودرېدلې چې پخوا یې څړځایونو ته د کوچیانو لپاره اجازه ورکوله:

> پخوا به کوچیان د یو لنډ وخت لپاره راتلل او بېرته به ګرځېدل، دوي زموږ ځمکې نه لاندې کولې نو ځکه شخړې هم نه وې. خو اوس کوچیان دلته راځي او زموږ ځمکې نیسي او په هغو کورونه ابادوي.[۱۲۱]

په اوبو کې کموالی او پرلپسې وچکالي څړځایونه له منځه یوړل او په پایله کې یې ښاري ابادۍ وشوې او بزګرانو څړځایونه ولکه کړل. کوچیانو له هغه وروسته خپل مالونه د کلیو څړځایونو او کروندو ته بوتلل. په پای کې کله چې کوچیان منځنیو لوړو ځمکو او نورو ځایونو کې له څړځایونو څخه منع شول، نورو څړځایونو ته یې مخه کړه، او د نفوسو د ډېروالي له امله حتی هغه ساحې هم اغېزمنې شوې چې پخوا یې شخړې نه وې لېدلې. [۱۲۲]

د ټولنو ترمنځ د ځواک په موازنه کې بدلونونه د شخړو لپاره یو بل لامل پېژندل شوی. په امام صاحب کې (کندوز) یو اندړ پښتون داسې وایي:

> پخوا زموږ نیکونو او پلرونو له ازبکانو سره په سوله کې ژوند کاوه او هیڅ ستونزه نه وه. کله چې انقلاب پیل شو، ځینو خلکو وسلې پیدا کړې او ځواکمن شول. په دې ډول د شخړو لپاره لاملونه پیدا شول. پخوا ازبکانو زموږ ځمکې نه نیولې؛ کله چې دوي ځواکمن شول نو زموږ په ځمکو یې تېری وکړ. [۱۲۳]

> له شخړو څخه مخکې حکومتونه پیاوړي وو، په هغه وخت کې هزاره ګان عسکر یا افسران نه وو. د تېرو حکومتونو په دوران کې کوچیان هر ځای ته تلل، په هغه وخت کې زموږ لپاره هیڅ ستونزه نه وه. اوسنی حکومت ښه نه دی. دوي کوچیان بې وسه کړي او هزاره ګانو ته یې اجازه ورکړې چې له ټول قوت څخه کار واخلي.[۱۲۴]

ایا په دې تکراري ادعا کې څه حقیقت شته چې د کوچي- بزګر د شخړو تر شا زورواکان او "مافیا "ولاړ دي؟ په یقیني ډول، د دغو کسانو له مرستې څخه پرته، د بزګرانو او کوچیانو د ټولنو لپاره به ډېره ستونزمنه وي چې په دوامداره ډول په شخړو کې ښکېل پاتې شي. "پخوا چې دغه قومندانان او مافیا نه وو، داسې شخړې هم نه وې او هیچا هم زموږ ځمکې نه نیولې." [۱۲۵]

---

۱۱۹ د کلي له مشر سره مرکه، ملنګ کلی، فبروري ۲۰۱۷.

۱۲۰ د کوچیانو له مشر سره مرکه، تره خېل قبیله، ده سبز، کابل، جنوري ۲۰۱۷.

۱۲۱ د کلي له مشر سره مرکه، پایم مینار کلی، ده سبز، کابل، جنوري ۲۰۱۷.

۱۲۲ د کوچیانو له مشر سره مرکه، ناصر قبیله، فراه، جون، ۲۰۱۷؛ د کلي له مشر سره مرکه، ننګاب کلی، فراه، جون، ۲۰۱۷.

۱۲۳ د مشر سره مرکه، اندړ قبیله، امام صاحب، کندز، اپریل ۲۰۱۷.

۱۲۴ د کوچیانو له مشر سره مرکه، ملا خېل قبیله، غزني، اپریل، ۲۰۱۷.

۱۲۵ له مشر سره مرکه، اندړ قبیله، امام صاحب، کندز، اپریل، ۲۰۱۷.

# ۸. پایله

دغې سروې، که څه هم محدوده ده، وښودله چې نن ورځ په افغانستان کې د کوچیانو او بزګرانو ترمنځ دوه مهم ډولونه دي: د بزګرانو له خوا ځرځایونو ته د کوچیانو نه پرېښودل او د ورشوګانو په ولکه کولو کې د کوچیانو او بزګرانو تر منځ سیالي. د شخړو نور ډولونه لکه په بې سرحده ځمکو د تېري له امله شخړې داسې معلومېږي چې په نسبي ډول نن سبا کمې پېښېږي که دغه شخړې په جدي ډول وڅېړل‌وو. که چېرې دغو شخړو ته په ټولیز اند وګورو ښايي دا شخړې یو مهم لامل وي چې ولې ځینې وختونه بزګران ځرځایونو ته کوچیان نه پرېږدي. په سرحدونو تیری په داسې یوه لومړني عامل بدلیږي چې وروسته بیا د شخړو نور بنیادي لاملونه رابرسېره کوي، او اوږدې او خونړۍ شخړې پیل کیږي. له دې امله شاید پر ځای وي، چې د شخړو د بنسټیزو لاملونو په شننه زور واچوو کوم لاملونه چې د ځمکو پر سر د شخړو لپاره تر ټولو اړین دي.

په راتلوونکو لیکنو کې لکه چې په بله مرحله کې یې څېړنې پیل کیږي مونږ به د پالیسي لپاره ځینې سپارښتنې ولیکو چې د دې پروژې په پایله کې لاس ته راځي. سره د دې، ښکاره ده چې د دولتي ځمکو په اړه د پالیسي په اصلاح کولو کې حکومت بېرته پاتې شوی دی. په شخصي ځمکو باندې د ځرځایونو د بدلولو لپاره شخړې د دې ښکارندوی ده چې د ځرځایونو د ځینو برخو په ښاري پروژو یا کرنیزو ځمکو باندې د بدلولو لپاره باید سملاسي یو چوکاټ جوړ شي. په دې برخه کې د حکومت او پارلمان ناغېړي د دې سبب شوې چې په زیاته پیمانه دولتي ځمکې غصب او ونیول شي. په افغانستان کې لوی ښارونه باید پراختیا ومومي، ځکه د نفوسو شمېر ورځ په ورځ زیاتېږي او د کورنیو شمېر د ۱۹۷۸ څخه تر ۲۰۰۱ ز پورې لوړ حد ته رسېدلی. ځرنګه چې حکومت د دې اړتیا په پوره کولو کې پاتې شوی، د متشبثینو یوه نوې کټګوري راپورته شوه چې په ناقانونه ډول له دې حالت څخه استفاده وکړي- دغه کټګوري د ځمکو غاصبین دي.

ځومره چې شخړې د هغو کسانو په لورې ځرخي ځوک چې په شخصي ځمکو د ځرځایونو د بدلولو پروسه تر ولکې لاندې لري، په هم هغه اندازه شخړې اوږدېږي او خونړۍ شکل پیدا کوي. اوس ډېرې لویې اقتصادي سرچینې په خطر کې دي او ورسره د ډېرو کورنیو خوندیتوب په خطر کې دی نو ځکه ډېر احتمال شته چې شخړې نورې هم په اسانۍ سره پراختیا ومومي:

> مونږ به په ځرځایونو دغو شخړو ته ادامه ورکړو او هغه خلکو ته به اجازه ور نه کړو چې زمونږ لپاره ستونزې جوړوي. په کوچي اباد کې مونږ کورونه جوړ کړل او غواړو همدا ډول د خاک جبار په چاربازګې کې هم کورونه جوړ کړو، که (نوم نه دی افشا شوی) او (نوم نه دی افشا شوی) مونږ ته اجازه را نه کړي، مونږ به دوي پرېښږدو چې کابل ته دننه شي او د دوي په مخ به لاره بنده کړو. که هر ځوک زمونږ په مخ کې ودرېږي مونږ به د دوي په وړاندې وجنګیږو او بله لاره نه لرو. [۱۲۶]

> دلته خبرو اترو کار و نه کړ [......]. مونږ ده ته ځو تنه مشران ولیږل، ده بیا (نوم نه دی افشا شوی) هغوی زندان ته واچول او دوي ته یې وویل چې تاسو تاجکان دلته راغلي یئ (نوم نه دی افشا شوی) حکومت نه مني. حتی که د ولسوالۍ (ناحیې) مشر ټاکل شوی هم وي، هغه باید د ده (نوم نه دی افشا شوی) ټاکنه وي. (نوم نه دی افشا شوی) د خلکو خبره نه اوري. مونږ غواړو د خبرو له لارې ستونزه حل کړو خو دوي مونږ ته غوږ نه نیسي. ځکه نو مونږ اړ یو چې له زور څخه کار واخلو.[۱۲۷]

د دې شرایطو په پایله کې، څه شی چې په پیل کې ښايي د کوچي/ بزګر ترمنځ شخړه وه اوس په نورو شخړو بدله شوې او د شخړو له نورو ډولونو سره یو ځای شوې. ځینې مرکې چې د څېړنې د ټیم له خوا تر سره شوې، د شخړو د قومي کېدلو په لورې تمایل په ښکاره ډول ځرګندوي:

> د حاجي محمد افضل خان کلی پښتانه دي او له کوچیانو سره مرسته کوي. د زرین کلا هم پښتانه دي او له کوچیانو سره مرسته کوي چې زمونږ ځمکې لاندې کړي او د کوچیانو او خپلو منځونو کې یې ووېشي.[۱۲۸]

۱۲۶ کوچي مشر سره مرکه، کوچي اباد، بود خاک، کابل، مارچ ۲۰۱۷.

۱۲۷ د کلي له مشر سره مرکه، خواجه چشت ساحه، ده سبز، کابل، ۲۰۱۷.

۱۲۸ د تاجکو د کلي له مشر سره مرکه، پیمینار کلی، ده سبز، کابل، جنوري ۲۰۱۷.

دلته د ازبکانو او پښتنو ترمنځ سیالي. ده نو څکه دلته د پښتنو او ازبکو ټول کلي په دې شخړه کې شامل دي.[۱۲۹]

یوه پښتون بزګر په مرکه کې وویل چې څنګه د ټولنې یوه سیاستوال هڅه وکړه څو کوچي چارواکو ته چې په ساحه کې د ځمکو په غصب کې ښکېل او قناعت ورکړي چې دوي یوازې پرېږدي. د ده دلیل دا و چې دوي هم پښتانه دي نه تاجکان.[۱۳۰] یوه کوچي مرکه کوونکي وویل چې له ده سره د پښتنو د قبیلو شوراګانو او سیاستوالو اړیکه نیولې او ټولو د مرستې ژمنه ورکړې او وویل: " دا د پښتو او دري ترمنځ لوبه ده. خپل ځان باید کمزوری و نه ښیي. "[۱۳۱]

په هغو ځایونو کې چې خلک یې له یوه قوم څخه وي، هلته د قوم پالنې نښې لېدلې کیږي. د بېلګې په ډول په خوست کې ځایي خلک د قبیلې د نسب له مخې کرلاني پښتانه دي، خو کوچیان چې ژمی هلته تېروي غلجي پښتانه دي. یو نیازي کوچی وایي: "دوي موږ ته وایي چې باید دلته را نه شې څکه چې تاسي غلجي یاست. "[۱۳۲]

> له کوچیانو سره نور کلي هم په شخړه کې ښکېل دي لکه متون وال، پیرای او تېرون. د نیازي په شان نورې قبیلې په دغو شخړو کې ښکېلې دي لکه عسی خېل، ناصر او دولت زي. دوي له نیازي قبیلې سره مرسته کوي. دغه د غلجي او کرلاني قبیلو ترمنځ لویه شخړه ده.[۱۳۳]

ښکاره ده چې د کوچي- بزګر شخړه پراخیږي او له دې امله په هغې کې د مداخلې کولو یو دلیل پیدا کیږي. پالیسي جوړوونکي زړه نا زړه دي چې د دې مسألې له مشرانو سره مخامخ شي څکه چې له یوې خوا دا مسأله ډېره پېچلې ده او له بلې خوا دولتي ظرفیت محدود دی او د دولت په وړاندې نور لومړیتوبونه شته لکه د یاغیانو جاري شخړې. خو هر څومره چې دغه ډول مداخلې شاه ته لویږي، په هم هغه انداز شخړې ژوریږي او د حل لاره یې ستونزمنه کیږي.

د کوچي- بزګر د شخړو پراختیا او زور په خپل ذات کې یوه ناوړه مسأله ده، نه یوازې د دې لپاره چې په هر کال کې په لس هاوو خلک خپل ژوند له لاسه ورکوي ، بلکې د دې شخړې اقتصادي زیانونه هم ډېر درانده دي:

> (دوي) بلدوزرونه راوړل او زموږ کورونه یې وران کړل. په یوه کور کې دوه کوچنیان هم ووژل شول. د دغو تاجکانو او زموږ د تره خېلو ترمنځ ډېرې شخړې وشوې.[۱۳۴]
>
> په دې شخړو کې موږ خپل څاروي له لاسه ورکړل او مالي زیانونه مو ولېدل. د بېلګې په ډول، مخکې ما ۳۰۰ څاروي درلودل خو اوس ۲۰۰ لرم. دا زما لپاره ډېر لوی زیان دی. [۱۳۵]

د کابل د حکومت له نظره، دا ډېره د اندېښنې خبره ده چې نژدې ټولو مرکه کوونکو په چارواکو له دې امله نیوکې وکړې چې نه شي کولای دا ډول شخړې حل کړي:

> له شخړو څخه پخوا حکومتونه د رښتیا حکومتونه وو خو اوسني حکومتونه په رښتیا کې حکومتونه نه دي. [....] اوسني حکومتونه د شخړو او ستونزو په حل کولو کې هیڅ نقش نه لري. په تېرو حکومتونو کې که چېرې کومه شخړه یا ستونزه وه، دغو حکومتونو کولای شوای هغه ستونزې ډېر ژر حل کړي.[۱۳۶]
>
> حکومت کمزوری دی او په حکومت کې دننه چارواکي هم ځمکې غصبوي. [.....] که چېرې حکومت له موږ سره مرسته کړې وای، موږ به قومي شوراګانو ته د شخړو د حل کولو لپاره نه تللو. موږ به حکومت ته ورتلو. په کندوز ولایت کې څوک یوه ستونزه لري، دوي یې د حل کولو لپاره طالبانو ته ورځي.[۱۳۷]

---

۱۲۹ د کلي له مشر سره مرکه، کور اکا خېل ، امام صاحب، اپریل، ۲۰۱۷.

۱۳۰ د کلي له مشر سره مرکه، باغګې ټولنه خاک جباز، کابل، مارچ، ۲۰۱۷.

۱۳۱ د کوچیانو له مشر سره مرکه، ټغر قبیله، ده سبز، کابل، جنوري ، ۲۰۱۷.

۱۳۲ د کوچیانو له مشر سره مرکه، نیازی قبیله ، دیرای، خوست، اپریل ، ۲۰۱۷.

۱۳۳ د کلي له مشر سره مرکه، متون وال قبیله، دیرای ، خوست، اپریل ۲۰۱۷.

۱۳۴ د کوچیانو له مشر سره مرکه، تره خېل قبیله ، ده سبز ، کابل، جنوري ۲۰۱۷.

۱۳۵ د بلوچو د کوچیانو له مشر سره مرکه، فراه، جون ۲۰۱۷

۱۳۶ د کوچیانو له مشرانو سره مرکه، ناصر قبیله، فراه، جون ، ۲۰۱۷.

۱۳۷ د ازبکو کوچیانو له مشر سره مرکه، ازبک بیک قبیله، کلام ګذر، اپریل ، ۲۰۱۷.

حکومت نه شي کولای چې خپلې پرېکړې عملي کړي او زموږ د ټولنې حقونه وساتي. محکمو درې ځله زموږ په ګټه پرېکړې صادرې کړې دي خو ولې حکومت نه شي کولای دغه پرېکړې پلې کړي. دغه خلک ډېر زورور دي او حکومت د دوي په ضد هیڅ کړنه نه شي کولای. اوس یوازې طالبان پاتې دي چې زموږ لپاره پرېکړه وکړي خو طالبان له موږ څخه پیسې غواړي. موږ نه پوهېږو کوم لوري ته ولاړ شو. یوازې داعش پاتې دی. [۱۳۸]

اوس که چېرې کومه ستونزه وي، خلک حکومت ته نه ځي بلکې قومي شوراګانو یا طالبانو ته ورځي.[۱۳۹]

د کابل د حکومت بې وسې یا بې میلي چې د کوچي- بزګر شخړې حل کړي په څرګند ډول د حکومت د مشروعیت په کمزوري کولو کې مرسته کوي. په ښکاره ډول باید دغه مسألې په چټکې سره حل شي. که چېرې د کوچیانو او بزګرانو ترمنځ د هرې واحدې شخړې حل کول وخت وغواړي، لیږ تر لیږه حکومت باید دا مسأله تر لاس لاندې ونیسي چې له څرځایونو سره څه باید وشي او د ښاري پراختیا لپاره څنګه ځمکې باید برابرې کړي چې په ناقانونه ډول د ځمکو د غصبولو کلیدي انګېزې کموي.

ډېرو مرکه کوونکو، په خاص ډول کوچیانو په دې شخړو کې د دولت د مداخلې غوښتنه کړې ده. سره د دې هم، ډېری دولتي چارواکي په دې باور دي چې افغان دولت په اوس مهال کې دا وړتیا نه لري چې د دې شخړو په حل کولو کې مرسته وکړي. افغان حکومت او بسپنه ورکونکې (ډونران) باید نوې لارې چارې پیدا کړي چې د شخړو په حل کولو کې د دولت وړتیا لوړه شي. د بیلګې په توګه، ایا کېدای شي کوچي ټولنو ته داسې انګېزې ورکړای شي چې لږ تر لږه د اوږدو کډوالیو لارې پرېږدي؟ په داسې تګلارو کې ډېرې تخنیکي مسألې شاملې دي چې په جزیاتو باید بحث پرې وشي.

تر کومه ځایه چې د افغنستان د څیړنې او ارزونې پروژه مطرح ده، د دې لیکنې موندنې هغه څه تائیدوي چې له دې څخه مخکې د رسنیو لپاره ویل شوي دي:

- د کوچیانو د مېشته کېدنې مسأله (په قسمي یا بشپړ ډول) د ډېرې پاملرنې وړ ده او دغه مسأله د شخړو په سرچینې بدلیږي؛
- د کوچي- بزګر شخړې په زیاتېدونکي ډول سیاسي او قومي بڼه اختیاروي چې په ضمني ډول د باالقوه شخړو لپاره د وسیلې خطر جوړوي؛
- د څرځایونو پر سر سیالي د یو شمېر نامرتبو لاملونو له امله زور پیدا کوي، او د دغو ځینې یې باید حل و فصل شي؛
- په شخړو کې د ښکېلو خواوو له جانبه د دولت کمزورتیا محسوسیږي، که څه هم په دې هوکړه نه ده شوې چې دولت باید په دې اړه کوم نقش لوبولی شي یا باید و یې لري؛
- د کوچي زورواکانو زیاتېدونکی نقش څرګندوي چې کوچي ټولنه څنګه د بدلونونو تابع ده.

۱۳۸ د اندړو د قبیلې له مشر سره مرکه، امام صاحب، کندز، اپریل ، ۲۰۱۷.

۱۳۹ د کلي له مشر سره مرکه، کول اکا خېل، امام صاحب، اپریل ، ۲۰۱۷.

# ببيلوګرافي

فرديناند، کلوز. "په مرکزي افغانستان کې د کوچيانو پراختيا او سوداګرۍ." فولک ۴، ۱۹۲۲.

فوشيني، فابريځيو. "د افغاني کوچيانو ټولنيزه بې وسي. " برلين: ای ای اين، ۲۰۱۳.

ګراهم، هيريسن، ايما. "د افغان شخړې ناځګنده تلفات: کوچي بزګران ځايي ژوند اختياروي."

https://www.theguardian.com/world/۲۰۱۳/jan/۰۸/afghanistan-war-nomadic-farmers. ، ګارډين، ۹ دي جنوري ۲۰۱۳.

کاکړ، حسن. "د افغانستان سياسي او ډيپلوماتيک تاريخ ۱۸۲۳-۱۹۰۱ پورې. " لی دن: بريل، ۲۰۱۲.

مسوي، ايس. ای. د افغانستان هزاره ګان. لندن: کرزن، ۱۹۹۸.

نوابي کنشکا. "کرکېچنې اړيکې: د وردګو په شړځايونو کې د کوچي او ځايي ټولنو ترمنځ د شخړو درک کول. "کابل: سي پي ای يو، ۲۰۱۰.

شريف، ايم. ايم. وای. " سفر په افغانستان کې د ځمکوالی اداره او مديريت. " بلو ماونډز: تېره انستيتوت، جون ۲۰۰۸.

يو ايس ايډ. "د افغانانو لپاره د خطرونو کمول. " يو ايس ايډ: د افغانستان د سولې پروژه، http:// afghanpeace.org

ډي وای جر، فراوکې. "د افغانستان کوچي شپانه: بدلون او توافق. "کوچيان، جلد ۱۱، ګڼه ۱، (۲۰۰۷): له ۹ – ۳۷.

ډي وای جر، فراوکې. "د کوچيانو د ژوند يوه ملي ځو سکتوري ارزونه. "کابل: ۲۰۰۵.

ويلي، ليخ الدن. "د شړځايونو پر سر جنګ. په افغانستان کې ناځرګنده شخړه. "ريوو ډي مونز مسلمان اي ډي لا ميديتيرامي: ۱۳۳، جون ۲۰۱۳.

ولي، ليخ الدن. "د شړځايونو په مسأله کې د سولې تلاش. "کابل: آريو ، ۲۰۰۴.

# د تبصرې لپاره غوښتنه

آریو ډېره لیوالتیا لري چې د خپلو څېړنو په اړه د لوستونکو اندونه واوري. تاسي که زموږ د خپروونو منظم لوستوونکي یاست، د آریو کوم لیکچر یا ورکشاپ ته راغلي یاست، د آریو له کتابتون څخه ګټه پورته کړې وی او یا له دې بنسټ سره یوازې اشنايي لری، ستاسې اندونه(نظریې) او تبصرې زموږ لپاره ډېرې ارزښتناکې دي. دغه اندونه کولای شي له موږ سره د ماموریت په سر ته رسولو کې په دې ډول مرسته وکړي چې د څېړنو په اړه زموږ تګلاره غني کوي او د پایلو د رسولو په لار کې راسره مرسته کوي. تر ټولو اسانه طریقه چې کولای شي موږ ته خپل نظریات ولیږئ دا ده چې زموږ له برېښنا لیک څخه استفاده وکړئ: areu@areu.org.af

یا تاسو کولای شی موږ ته په دې شمېره زنګ ووهئ: (۰۷۹۹۶۰۸۵۴۸). تاسي کولای شی موږ ته په ازادانه ډول خپل نظریات ووایئ ، خو ښو بل القوه ګټور معلومات دا ډول دي:

- څنګه چې تاسي له آریو سره کار کوئ (د خپرونو ، غونډو ، یا له نورو لارو )
- د کوم شي لپاره چې تاسي د آریو څېړنې کاروئ
- په کوم ډول چې تاسي د آریو خپرونې تر لاسه کوئ
- لیکنې په بڼه که په برېښنایي ډول له هغو ګټه پورته کوئ
- د خپرونو له لارې تر ټولو په ښه ډول د معلوماتو عرضه کول
- زموږ د څېړنو په پروسو او پایلو ستاسو نظریات
- د څېړنو لپاره وړاندیزي ساحې
- د آریو خپرونې او پېښې چې تاسو یې تر ټولو زیاتې خوښوئ
- ستاسو په باور زموږ په کار کې ښه والی
- ستاسي د علاقې ساحه، د کار ځای یا تحصیل او موقیعیت

# د AREU وروستۍ خپرونې

ټولې خپرونې له www.areu.org.af ویبپاڼې ډاونلوډولی شئ، او ډېر یې په چاپ شوی یا هارډکاپي بڼه په کابل کې د AREU له دفتره هم لاسته راوړلی شئ.

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکونکي | په دري ژبه لاس ته راتلونکي | په پښتو ژبه لاس ته راتلونکي | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۸ کال د جنوری میاشت | په افغانستان کې د کوچې-خایی شخړو ډولونه | ډاکتر انتونیو ګیستوزی | | | د طبیعي زیرمو مدیریت | موضوعی څېړنه |
| د ۱۳۹۶ کال د کب میاشت | ښاري خوندیتوب: په افغانستان کې د ښاري سولې جوړونې پروګرام ته یوه بیاکتنه | یما ترابی | √ | √ | ټولنیز ملاتړ | د پالیسی نوټ |
| د ۲۰۸ کال د می میاشت | د افغانستان د پولیسو د اصلاحاتو په برخه کې د EUPOL د اغیزمنتوب ارزونه | قیوم سروش | | | ټولنیز ملاتړ | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۸ کال د می میاشت | ولاړې اوبه ژورې ځي: د کوکنارو ناقانونه کښت او د سویل لویدیز افغانستان د دښتو بدلون | دیوید منسفیلد | | | د طبیعي زیرمو مدیریت | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۸ کال د جنوری میاشت | موضوعی څېړنه: په افغانستان کې د انسان د قاچاق د مخنیوی لپاره جوړښتیزمیکانیزمونه | ولی محمد کنډیوال | | | ټولنیز ملاتړ | د پالیسی نوټ |
| د ۲۰۱۸ کال د مارچ میاشت | موضوعی څېړنه: په افغانستان کې د انسان د قاچاق د مخنیوی لپاره جوړښتیزمیکانیزمونه | سوپروا نراسیمهیا | | | ټولنیز ملاتړ | موضوعی څېړنه |
| د۱۳۹۶ کال د لړم میاشت | په افغانستان کې د کوچي - بزګر ترمینځ د شخړو څېړنه | داکتر انتونیو ګیستوزي | | | ټولنیز ملاتړ او معیشت | لنډیز |
| د۱۳۹۶ کال د زمری میاشت | په افغانستان کې قضایي بیا کتنه | غزال حارس | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسۍ نوټ |
| د۱۳۹۶ کال د زمری میاشت | په افغانستان کې د اجرائیه قوې تکامل: تیر ته کتنه او راتلونکي لپاره وړاندیزونه | کاوون کاکړ، توماس کریمر، همایون رئوفی | √ | √ | اساسي قانون | د پالیسۍ نوټ |
| د۱۳۹۶ کال دغبرګولیمیاشت | په افغانستان کېښاري حکومتولي: د ښارونو د پراختیایي پروګرام ارزونه | دتلیف کامیر، ذبیح الله عیسی | √ | √ | حکومتولۍ او سیاسي اقتصاد | د پالیسۍ نوټ |
| د۱۳۹۶ کال دغبرګولی میاشت | د کانونو حکومتولۍ: داستخراجي صنعتونو د مالیو اغیزناک مدیریت | جاوید نوراني، نجیب الله زیار | √ | √ | حکومتولۍ او سیاسي اقتصاد | د پالیسۍ نوټ |
| د۲۹۳۱ کال دغبرګولی میاشت | دکډوالۍ حکومتولۍ: په افغانستان کې د مفاهیمو او نهادونو کاري چوکات وده | ولی محمد کنډیوال، هلن سی سی | √ | √ | حکومتولۍ او سیاسي اقتصاد | د پالیسۍ نوټ |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۲ کال د جولای میاشت | په افغانستان کې د ښې حکومتولۍ په اړه د مدني ټولنې ونډه | اورځلا اشرف نعمت او کارن ورنر | √ | √ | مدني ټولنه او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د جولای میاشت | په افغانستان کې سیمه ییزه حکومتولي | آریا نجات؛ کریستوف ګوستانۍ بصیرفدا او جان کویهلر | | | سیمه ایزه حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د جولای میاشت | خلکوته د حکومت نږدې کول: په افغانستان کې د پلان او بودجې جوړولو غیر متمرکز کول | نعمت الله بیژن؛ فرحت امیل او هارون نایب خیل | | | ولایتي پلان او بودجه جوړول او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د مې میاشت | د استخراجي سکتور لپاره د حکومتولۍ انډولیز اقدام | جاوید نوراني او لیین دی بروکییر | | | د کانونو کیندنه او حکومتولي | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د مې میاشت | له سرحد څخه پورې خوا د اوبو د سرچینو انکشاف: د افغانستان، ایران او پاکستان ترمنځ د همکارۍ لیدونه کوم دي؟ | وینسنت توماس، مجیب احمد عزیزي او خالد بهزاد | | | د طبیعی منابعو مدیریت | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د مې میاشت | نارینه او «نارینتوب» ته نږدې کتنه: د جنسیت په برابروالي کې د هغوی فعاله ونډه اخیستنه | لیبه ویلفریدا ار ای پیلا نګو، چونه آر ایچاوز، پرویز (طفیل)؟ سید مهدي موسوي | √ | √ | جنسیت | د پالیسۍ یاددښت |
| د ۲۰۱۲ کال د اپریل میاشت | د شګو پرېنسټ جوړ شوی دولت: تریاکو افغانستان څنګه کمزوری کړ | دیوید مانسفیلد | | | د طبیعي منابعو مدیریت | کتاب |
| د ۲۰۱۲ کال د اپریل میاشت | د کندهار په ولایت کې د ساحوي کار لنډ یادښت، د ۲۰۱۵ کال له ډسمبر څخه د ۲۰۱۲ کال تر جنوري پورې: تریاک او په کلیو کې معیشت | پاول فیشتین | √ | √ | د طبیعي منابعو مدیریت | لنډیز |
| د ۲۰۱۲ کال د مارچ میاشت | له آیساف څخه وروسته د افغانستان ملي اردو | انتونیو جیوستوزي او علی محمد علی | | | حکومتولي | معلوماتي سند |
| د ۲۰۱۲ کال د فبروري میاشت | شیطان په جزئیاتو کې ده: په ننګرهار کې یاغیتوب، تاوتریخوالۍ او په پراخه کچه د مخدره توکو د تولید پرله پسې کمښت | دیوید مانسفیلد | √ | √ | د طبیعي منابعو مدیریت | لنډیز |
| د ۲۰۱۲ کال د فبروري میاشت | په افغانستان کې د زده کړې او روغتیائي خدمتونو د وړاندې کولو سیاسي اقتصاد | AREU | | | حکومتولي او سیاسي اقتصاد | څېړنپاڼه |
| د ۲۰۱۲ کال د جنوري میاشت | په کورنیو کې د اوبو نه خوندیتوب: په افغانستان کې د ښې کرنې لپاره د څښلو اوبو ته د پاینښت لرونکي لا سرسي بدلون | توماس وینسنت | √ | √ | پاینښت لرونکی معیشت | د بحث لپاره لیکنه |
| د ۲۰۱۲ کال د جنوري میاشت | د جنسیتي نا برابرۍ بل اړخ: په افغانستان کې نارینه او نارینتوب | چونا ار. ایچاویز؛ سید مهدي موسوي، او لیبه ویلفریدا آر ای پیلانګو | √ | √ | جنسیت | څېړنپاڼه |

AREU

ښه څېړنې د افغانستان لپاره

ټولې خپرونې په دغه پاڼه کې د راښکته کولو لپاره www.areu.org.af لاس ته راوړی شي.

په کابل کې ددغه ادارې په دفتر کې چاپ شوې کاپیانې هم موجودې دي.

**د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره**

لسمه ناحیه، لومړی سړک، نوی ښار،
کابل، افغانستان

تیلفون: ۵۴۸ ۲۰۸ ۷۹۹(۰)۹۳+

برېښنالیک:publications@areu.org.af

ویب پاڼه:www.areu.org.af

ISBN 978-9936-641-04-4

9 789936 641044